# ما به له تا څه غوښتل؟

(شعري ټولګه)

**ویــــناوال:**

ذکرالله ملنګ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الرحمن الرحيم

.................کتاب پېژندنه.......................................................

کتاب: **ما به له تا څه غوښتل؟**

ويناوال: **ذکرالله ملنګ**

کمپوز او اډيټ: **عبدالوهاب مومند**

اړيکه: **074 904 3834 ـ wahabmomand90@gmail.com**

چاپ وار: **لومړی**

کچه: **رقعي**

د چاپ شمېر : **۱۰۰۰/زر ټوکه**

د خپرېدو کال: **۱۳۹۹ل/ 2021ع**

چاپ زيار: **بغلان ادبي بهير**

خپروندی: **نور خپرندويه ټولنه**

اړيکه: **0777 314 202/078 621 800 ـ noor.books2014@gmail.com**

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنيزو رسنيو د خپرولو حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ!

هغو چا ته چې زه يې د ژوند په خوږو پوه نه شوم د ابد لپاره يې دا ناڅوانه نړۍ؛ زه او زما ټول خپلوان پر ځای پرېښودو او د تل لپاره يې د احسانونو پوروړی يم.

مور او پلار ته مې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړلیک

د ملنګ دا منظومه وینا ........ ذ
غزل او د ملنګ شاعري ........ ش
بې قلنګه ملنګ ........ ط
حمد ........ 2
نعت ........ 3
کال ........ 4
توبه ........ 5
مه رانه ورېږه ........ 6
محبت ........ 7
غزل ........ 8
ننګ ........ 9
اغزي ........ 10
دعوه ........ 11
زولنې ........ 12
قلمه ........ 13
احترام ........ 14
حماسي غزل ........ 15
ملامت ........ 16
توشیح غزل ........ 17
اوښکې ........ 18
خزان ........ 19

(c) ketabton.com: The Digital Library




اختیار ........................................ 20

آزار ........................................ 21

ازلي برخه ........................................ 22

بغاوت........................................ 23

په کاڼو ولې ........................................ 24

څاڅکی ........................................ 25

څو توبې ........................................ 26

خو چې وای ........................................ 27

خوښ مې نه دی........................................ 28

خوښ یم ........................................ 29

د چا څه! ........................................ 30

هغه کوم کلی دی ........................................ 31

ورک جانان ........................................ 32

یاغي........................................ 33

اغیار په رګونو کې........................................ 34

اندېښنې ........................................ 35

انسان ته خطاب ........................................ 36

انګازه شوه ........................................ 37

بد نصیبه ........................................ 38

بد قسمته ........................................ 39

بې قلنګه ملنګ ........................................ 40

بیمار........................................ 41

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيدار........................................................................ 42
پرې پايم ..................................................................... 43
غزل......................................................................... 44
په تناب تړلی................................................................. 45
په جبين خال ................................................................. 46
په خوب ويده ................................................................. 47
په ګيله يم ................................................................... 48
په هوش....................................................................... 49
پيغام ........................................................................ 50
تعبير......................................................................... 51
تور بوراګی.................................................................... 52
توره تياره.................................................................... 53
جام ......................................................................... 54
جدا شه ...................................................................... 55
ښېرې ګرېوان................................................................. 56
خوبه وړي .................................................................... 57
رڼه شپه...................................................................... 58
غزل......................................................................... 59
کله کله ..................................................................... 78
نيمه شپه..................................................................... 79
غزل......................................................................... 80
د رحمن مېلمانه............................................................... 81

(c) ketabton.com: The Digital Library




زما زړه........................................................ 82

غزل........................................................ 83

کعبې ته سلام ........................................................ 88

غزل........................................................ 89

ښکار شومه ........................................................ 90

د بیابانونو مېلمه........................................................ 91

دامونه د چا نه منم ........................................................ 92

د دربار خاورې ........................................................ 93

د خولې آواز ........................................................ 94

د آشنا مینه ........................................................ 95

د ژوند ارمان........................................................ 96

د عاشق آواز........................................................ 97

د لېونیانو په جامه کې........................................................ 98

د ملنګ کچکول ........................................................100

د میدان خبرې ........................................................101

د ناز دعوت........................................................102

د وفا قول ........................................................103

د یار په تمه........................................................104

زخمي مینه ........................................................105

زما جونګړې........................................................106

زندان ........................................................107

زه به نه یم ........................................................108

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژړوي مې......109
ستا په سترگو......110
سلام آشنا ته......111
غزل......112
ملنگ او گلاب......113
مننه......114
غزل......115
مرگیه......135
غزل......139
مننلیک......140

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملنګ دا منظومه وینا

انسان چې کله تر رواني اغېز لاندې راشي، نو ذهن یې پر حرکت را شي. دغه رواني اغېز له چاپېریاله وي، ذهني تجربې یا پوهه او یا هنر زېږوي، خو کله که په ذهن کې اندېښنې، ستونزې، کړاوونه او غمونه سیوری وکړي ، نو دلته دماغ به بیا دغه ستونزې، کړاوونه، اندېښنې، غمومونه.... په هنري پنځونو کې وړاندې کوي او خپل حالت به د لفظونو او کلمو په انځوریزه جامه کې رانغاړي یا به د ژوند رنګین مزل د اغېزو پر سر لار وهي.

هغه ذهنونه او دماغونه بختور دي چې د طبیعت پېښې په هنري انځورونو بدلوي، د ژوند سفر په رنګینیو کې رانغاړي، خو هغه چې د طبیعت پېښو اخیستي، د هغوی د ژوند سفر پر اغزیو دی. دلته ځینې نشو ته مخه کوي، ځینې بد اعمالو ته او ځینې دا سفر د سترګو په رپ کې بایلي.

نو بختور هغه دي چې د طبیعت پېښې ، د ژوند په سفر او په رنګین لړ کې داسې وپېیي چې ټولنې ته ژوند په رنګینیو او خوند کې وړاندې کړي.

هغه ټولنې چې د ژوند له رنګینیو بې برخې دي او یا یې دغه سفر د ګلونو پر لار نه وي، هلته دودیزې خبرې ، دودیز مسایل، نصیحتونه او بیا هم ژوند ته د رابللو هغه لومړنۍ خبرې په کې دود وي.

زموږ ټولنه د ژوند د سفر د رنګینیو پر لار او هم څنګه چې ښایي نه ده برابر شوې ، لا هم له دودیزو چوکاټونو او خبرو سره مخ ده.

یو زمانه کې به خلکو نظم همدغو دودیزو مسایلو ته وسیله کاوه، خو که یو نیم به داسې راپیدا شو چې د ژوند سفر به یې د رنګینیو په لار برابر کړ، نو ټولنې یې ذهني هضم نه لاره، دا هم زموږ د دودیزو مسایلو او زده کړو پورې تړلې ده ، خو ترڅنګ یې بیا ولسي او دودیزو محرومیتونو پر هغو ذهنونو چې د وینا ژبه یې ولسي او په ښکاره پرې پابندي وه ، هنري مزل وواهه. دا زموږ د ولسي ادب برخه ده. دا برخه هم د دودیزو چوکاټونو تر اغېز لاندې ده، یوازې د یوې ځانګړې ټولنې او کلتور خبرې راباندې په هنري جامه کې لولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخوا بيا په ليکني ادب کې د ښوونيز، روزنيزو او کلتوري اغېز تر سيوري لاندې خبرې هم لولو. دا خبرې د نظم په ژبه دې ته وړاندې شوي چې په ټولنه کې د سمون فکر رامنځته کړي او ټولنه له شتو ستونزو خلاصه شي، دلته نظم د وسيلې په توګه کارېدلی. شاعري په کې ډېره نه ښکاري. هغه ناظمان چې نظم ليکلو شوق ورسره شته، د شوق او خپلې ځانګړې هڅې له مخې لومړی همدغه دوديزې خبرې او شته ستونزې منظوموي. دا خلک هم بختور دي چې د طبيعت پېښې او خپل دوديز مسايل لږ تر لږه د نظم په چوکاټونو کې رانغاړي. د دوی دغه رنګين لېونتوب ټولنه سمون ته رابولي، يو له دغو لارويو څخه هم ذکرالله ملنګ دی.

ذکرالله ملنګ په خپل دغه منظوم کچکول کې د ځان لپاره خير نه غواړي. خير د خپلې ټولنې د بقا او سمون لپاره غواړي، له شته وو ستونزو يې خلاصون لپاره غواړي. دی بختور دی چې دماغ يې د طبيعت پر پېښو داسې ذهني تجربې وکړې چې نورو ته پند ګرځي او د نظم په خوږه ژبه يې همدغه ټولنه کې شته خبرې او مسايل بېرته کټ مټ پرته له مداخلې وړاندې کړي، ويې ليدل، وايې ورېدل، ويې څکل، بېرته يې کټ مټ پر محاورې يا عادي ژبې نه؛ بلکې په منظومه ژبه وړاندې کړل.

يو مو وشاړه سل نور راته پيدا شو
دا د چا له خوا ورکړې اجازه شوه
ملنګ وايي دغه واک قلم ته ورکړئ!
رانه جوړه په نړۍ کې ډرامه شوه

***

جنګه بس ده مېلمستيا بل لور ته لاړ شه
په کلونو دې کوربه شو زموږ کلی

هغه بيتونه کله ناکله يې ذهني تجربو تخيېلي ځواک هم کارولی دی. د داسې نظمونو چې هغه دې يوازې د ټولنې شته ستونزې او ناخوالې وړاندې کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې وزن ته پام وي. له نورو خلکو سره چې هغوی هم په خپلو ورځنیو مجلسونو او ناستو کې دغه مسایل یادوي، توپیر دا دی چې دوی د نظم په چوکاټونو کې موزونوي.

نو ملنگ په دې بختور دی چې د طبیعت پېښو په غرونو ونه گرځاوه، نه یې نشو ته مخه کړه، بلکې یوه داسې موزونه نشه یې پرې وکړه چې ده دغه پیمانه نه لیدله ، خو خپلو الفاظو ته یې پیمانه پیدا کړه او دا دی نن یې زموږ مخې ته ذهني تجربه او لاسته راوړنه پرته ده، ملنگ د خپلو اخلافو خبرې اورېدلې او یا لوستي دي، نو هغو یې هم پر ذهن سیوری کړی دی.

دا چې ته کړې راته گواښ په سر مې پښې ږدې
زرغونېږم به پر ځمکه لکه زړی.

دده دغه احساس او لوی فکر د لوستونکي ذهن ته دا وینا ور تداعي کړي، د رحمان بابا چې .

ژوندی ځان په ځمکه ښخ کړه لکه تخم
که لویي غواړې د خاورې په مقام شه

نو دی په گواښ کې خپل ژوند ویني او ځان له زړي سره تشبه کوي. دا هم زموږ د ټولنې یوه دودیزه مفکوره ده . یو بل بیت چې هم د دودیزې مفکورې پر بنسټ دی:

ملنگ وایي ځم په لار د درویشانو
درویشان دي چې ختلي تر افلاک

دلته هم د سړي ذهن ته د رحمان بابا وینا راځي.

چې په یو قدم تر عرشه پورې رسي
ما لیدلی دی رفتار د درویشانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملنګ کچکول مې ولید، ځینو ځایونو کې مېسرو ترمنځ معنوي او لفظي ټکر و، د لهجې بار هم پرې پروت و، ما خپل وړاندیزونه ورته په ګوته کړل، نور دده خوښه چې مني یې او که نه؟

د دا ډول ویناوو یوه کامیابي همدا وي چې لږ تر لږه لفظي او معنوي ټکر او وزني کمزورتیا نه لري. د ملنګ د کچکول طبعه او روانه ژبه دا څرګندوي چې:

څانګه به نن سبا کې ګل شي
ما یې په سر کې سرې غوټۍ لیدلې دینه

**درنښت او شاعرانه مینه**

**لعل پاچا ازمون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل او د ملنګ شاعري

غزل لکه څرنګه چې له نوم څخه يې څرګنده ده، يوه عربي کلمه ده او د عربو له شاعري څخه دا بڼه پښتو شاعرۍ ته اقتباس شوې، چې وروسته وروسته ځوان تنکي شاعرانو ورته مخه اړولې او د آسمان ځلانده ستوري غوندې په پښتو شاعرۍ کې غزل فورم ځلولی. د غزل مقبوليت د خوشحال بابا له شاعرۍ څخه راپېدې خوا پښتو خپل کړ او د عشق (لېريک) مضمون نه سېوا لمن يې نورو سکالو ته وځځوله، خو غزل د نورو فورمونو نه يوه متفاوته ژانر ښکاري ځکه نوي شاعران د شاعري پخوالي له وجې تخنيکي پيل پرې کوي. غزل ژانر د خپل په غېږ کې ځانګړي رکنونه لري چې له(مطلع، مقطع، قافيه، رديف، څپيز او خجيز) خواوې نه بحث مخې ته راځي، چې وروسته سيلابوټونيک سيستم يې له (۷څپيزو نه تر ۱۵څپيزو) پورې يادوونه اړينه بولو، خو کله کله داسې غزل هم رامخته کېږي چې آن تر ۱۶څپيز وزن لري خو آهنګ يې د ۱۵ څپيز په کې ښکاري.

ملنګ صيب د خپلې غزليزې شاعري په لمن کې داسې موضوعات راوړي چې عشقي، فراق، انتقاديه، وطندوستي، ګيلايه، او پند نصحت مضمون په کې موندل کېږي چې انتقاديه، نشليزم او نوموړې نور پاينتونه د خوشحال بابا له شاعرۍ څخه يې ځمکه را پراخېږي، چې آن تر يوېشتمې پېړۍ پورې شتون يې د ناخوالو په علت د الهام په وزرونو پراته ښکاري. د ملنګ صيب غزليزې شاعري سيلابوټونيک سيستم د څپيزو نا انډول؛ ياني يوه زياته څپه لېدل کېږي خو د آهنګ تارونو له مخې بيا روان سُر او لی ساتي. لکه په دې بيت کې:

زه ناست درته کوڅه کې د راتلو په انتظار يم(۱۵)

دا ستا د ګوتو شمېر مې په فالونو کې راځي(۱۴)

يا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېدلی ببر سر څېرې ګرېوان زه[۱۲]
لېونو کې لېونی وی خو چې وای[۱۱]

د څپو نا انډول یوازې په دې کرښو کې نه وینم همدارنګه په ازلي برخه، ملامت، زندان او مننه... نومې غزل کې د څپو زیاتوالی را په ګوته کېږي، دا ددې لپاره چې ملنګ صیب اکثره غزلې د یوولس څپیزو استازیتوب کوي او دا نا انډولیتا په څوارلس او یوولس څپیزو غزلو کې شتون لري خو په ځینو ځایونو کې د څوارلس او یوولس د څپو انډولتیا لېدل کېږي چې (زندان او ژړوي مې...) او نور نومې غزل په ګوته کولی شم. د غزل په پنځلس څپیز او دولس... سیلابوټونیک انډولتیا تر پایه پورې ښه لېدل کېږي چې د وزن سکښت او برابرښت له نورو خواوو سره ښه سیستماټیک آهنګ ساتي.

د اندېښنې وړ خبره د لوستونکو او کره کتونکو د خو ګوته وه، چې دا د خو ګوته د یون صیب (د پښتو شعر هندسي جوړښت) څخه ردوم. د یاد کتاب څخه دا خبره نقلول یې اړین بولم، چې لیکي: (په ځینو خاصو غزلو کې کېدای شي د غزل هغه مسرې چې قافیه نه لري یوه څپه له قافیه والو مسرو څخه زیاتې شي.) دا ددې مانا لري د غزل په ازادو کرښو کې یوه څپه ډېره خو چې آهنګ یې برابر وي او غالباً د ازادو کرښو ډېرښت یو علت  د ډېری شاعرانو نابلدتیا له تیوري کتابونو څخه وي.

د ملنګ صیب د شعري ټولګې ځانګړنو ترڅنګ یوه ځانګړنه له حمدیه او نعتیه څخه پیلېږي چې د منځنۍ (کلاسیک) دورې چاپ کتابونه همدې څیزونو ته د ارزښت په سترګه ګوري خو په معاصره دوره کې ډېری کتابونه داسې نه ښکاري، ددې خبرو تر څنګ  لوړ خیال، ادبي صنعتونه[چې ستا په سترګو نومې غزل کې درې تلمیح صنعتونه لېدل کېږي] او د عرفان او تصوف رنګ په کې لا ښه انځورېږي.

په شعري ټولګه کې مطلعه داره، بې مطلعې، ردیف وال، بې ردیفه، ذوالقافتین، ماته غرل، حماسي او رومانتیک غزلونه شتون لري او په پای کې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي ذکرالله ملنګ ته ددې شعري ټولګې مبارکي وایم او تل یې ددې بیت غوندې تاند غواړم:

چې قلم وي، نیمه شپه او سپین کاغذ وي
زه ملنګ هم په رښتیا توره بلا شم

**نمانځنه**

**عبدالوهاب مومند**

۱۳۹۸/۱۱/۲۶ل

**بغلان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې قلنګه ملنګ

د چونغر په لمن کې دېره، سایل د کوڅې یار، بې کچکوله بې قلنګه، د ولس په وېر کې له ځانه ورک، د ولس خیر پسې په جومات او ښوونځي کې لالهاند ملنګ ترنم دی، چې کور په کور ولس ته د ولس لپاره د سوال لمن نیولې، خیر یې غواړي ، ولس یې کله رټي، کله یې مني او کله پېغور ورکوي خو ملنګ د نصحیت لکړه په لاس هر ور ته د بېدارۍ او ښېرازۍ ترنم ښه په مینه وایي.

ویده به کله پاڅوې له خوبه
ملنګ هغه او غزلونه هغه

یا:

خلک مې بولي چې ازغی دی او نفرت ترې وکړئ
اغزی خو ویني چې ساتنه کړي له ګله ځینې

ملنګ د حق په مخ خندېونه، د جبر خلاف چیغه، د مینو د زړه شور او د ناخوالو طلسمونه ماتوي، دې کاروان ته ملنګان رابولي د نا پروا خوی له اړخه خاموش منبر او محراب هم نه مني.

واعظه ته ګونګی یې او حق ویلی نه شې
محرابه ملامت یې که منبر کړم ملامت

د ولس په مینه مست ملنګ د نصیحت لپاره لفظونه ډېر ښایسته پېیلي دي، سمون په جنون کې ملنګ د خواږه ژوندون بهار او خُمار په عشق او مینه کې لټوي، د هوسا ژوند لپاره انسان خپل ځان ته رابولي د ریاء په دریاب کې ډوب ورک لاري یې خوښ نه دي.

ښه مجاز د ماشومتوب الله راکړی
په وړه خبر خپه او هم پخلا شم

یا:

د مخلوق په وړاندې پورته پورته غورځي
شیخ بې ځایه ریایي کړي خوښ مې نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملنګ په عرفان کلک مېين دی او د کلام په هر مخ کې يې دا مينه له ورايه ځلېږي، د معرفت څراغ په لاس خپلې توبرې سره د جانان په لټون کې ډوب او سرګردان دی څو خپل مسير ومومي انسانيت ورته د مينې په لار کې برېښي آن د غير لارويان ورته بينا نه برېښي.

که دې ونېوه لمن زما د يار
سپين کوتر به درنه جوړ شي که يې زاغ

يا:

مينه يوه ده مينان يې ډېر بې حده وينم
چې په کوڅو کې غلطيږي هغه کوم کلی دی

د سولې تنده، ټولنيز عدالت نشتون ، زياتی او محروميت بې قلنګه ملنګ څخه بېنوا نه دي پاتې ډېر ښه يې په ترنم کې يې رانغښتي او د سمون خيرونه يې غواړي.

زه په کوم ګناه مجرم يم ګڼل شوی
چې مې ډکه له بچو نه هديره شوه

يا:

څوک چې نوم د سولې نن په ژبه واخلي
بيا سبا يې په رېښتيا په کاڼو ولي

ومو غوښتل د ملنګ صيب د شاعري له اړخونو يو کوچنی ظاهري انځور راواخلو پاتې علمي بحث او ملغلرې به يې درنو ښوونکو او د ادب علماو ته پرېږدو، پای کې د ملنګ صيب د لومړي کتاب چاپ ( ما به له تا څه غوښتل؟) مبارکي ورته وايم، هيله من يم لفظونه يې د نسلونه په خوله کې زمزمې وکړي او د ملنګ غوښتل شوي خيرونه د وطن کچکول کې واچوي.

مينه او درنښت
عبدالمبين صافی
بغلان ادبي بهير

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد

چې قادر په هر يو کـار دی هغـه خــدای(ج) دی
چې د هر چار مدد ګار دی هغـه خــدای(ج) دی

په تسبيــح چــې مــلائيک ورتـــه ګــويا دي
چې هر څوک يې طلبګار دی هغه خدای(ج) دی

هــــم ثنـــا يې په اوبــو کې کبـان وايــي
د هــر چــا راز ته بيدار دی هغه خـدای(ج) دی

که شــــجر، حــجر، مــدر او يا حيــوان دی
چې هر چاته بيا په کار دی هغـــه خـدای(ج) دی

وچـــه ځمــکه ده يو دم يې کـــړي زرغــونه
راوستونکی د بهـــار دی هغـــه خـــدای(ج) دی

چې دده څــــوک بنـده ګــي کوي پــه حقه
هم دده بنده چې يار دی هغه خــــدای(ج) دی

رســــــولان يې هــم دنــيا ته رالېــــږلـــي
چې مين مې په دلدار دی هغه خــدای(ج) دی

که څوک وايي چې پادشاه يم، پادشـــاه نه دی
د شاهانو چې سالار دی هغـــه خــــدای(ج) دی

عبــــــــادت يې همـــېشه کـــوه ملـــنګه!
په قيـامت کې چې قهار دی هغه خدای(ج) دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعت

مهـــربان تـر مـور او پـلار يې محمده(ص)
انبـــياوو کـې سـردار يې محــــمده(ص)

دا مـنم له تا ډېر مخــکې پيــدا شـوي
تـه د ټــولــو افتــخار يې محـــمده(ص)

په ظاهـره کـې وروستی دنيا ته راغلې
په باطن کې لومړی وار يې محـمده(ص)

درود ســلام به درلېږمه د رب دوسته!
دلتـه، هلــته مې په کـار يې محمده(ص)

نوم دې خـوږ رابـاندې لګـي د زړه سره
ګناهـکار امـت غمـخوار يې محـــمده(ص)

د اخــــلاقـو نمــونه دې يـاد ســاتمـه
چې ياد کـــړی کـــردګار يې محـمده(ص)

صفتــونه دې ملنــګ کولـی نه شـــي
چې په کومـو ته سيـنګار يې محـمده(ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کال

کالـه بـدل شـوې خـو نيـتونه هغـه
بنـــدي هغـه او زنـــدانـونـه هغـــه

شپه، ورځ تېرېږي انتظار اوږدېږي
راتـــګ هغـه شـــو سفـــرونه هغـــه

سـهار په روغـو پښـو له کوره وځي
ګـوډ، مات را درومي لاملـونه هغه

د بل چا سترګې ړندې نه شوې دلته
خيـال يې روغ نه شـو نظرونه هغه

ويـــده به کلـــه پاڅـــوې له خـوبه
ملنــــګ هغـــه او غـــزلـونه هـــغه

۲۰۱۴/۱/۱ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توبه

د نـا اهــــلو لـه یــارۍ نـــه مـې تـــوبـه
په دوســـتۍ کې دښمــنۍ نـه مې تـــوبه

ښتن خپله ښایسته ښایست یې خوبښ دی
د بـدرنګـــو له دوسـتۍ نـــه مـې تـــوبــه

ترېو تنـدی څـوړنـدې ســـترګې د بل چـا
له دې هســې بـد نیتـــۍ نـه مـې تـــوبـه

چـې یـې ټـنډه په سـجدو شـاهده نه وه
بې ایـمانه شـین خـــالـۍ نه مې تـــوبه

شـل مې نه کــړله ملنـــګه نولـــس پاتې
دې نیـــمګړې دنیـــاګۍ نه مـــې تـــوبـه

۱۳۹۲/۱۰/۱۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مه رانه وړه

دنیــا درهــم دې یــوړلــو کتــاب مــه رانــه وړه
سپوږمــۍ د څوارلســمې په ســحاب مــه رانه وړه

له ډېرو هڅو وروسته مــې ګوهر په کې موندلی
تر څنګ چې مې بهېږي روڼ دریاب مه رانه وړه

مــا اوس وپــېژنــدله خپــله پــولــه او پټــۍ
جریــب رانــه یونــسې او تنــاب مــه رانه وړه

ډېــر یــم وږی تــږی د سفــر غــرمو وهــلی
زم زم مې پیــدا کــړي او کبــاب مــه رانــه وړه

اسـتاذ مې چې بدنام شولو تعلیم مې له پام بد
امــام دې رانــه یــوړلــو مـحراب مـه رانـه وړه

د شـعر په خــوږه ژبــه چــې څـه حقیقت وایي!
ځــاریــږم لــه ځــوابه او تــراب مـــه رانه وړه

ملنــګه! هر یو ګــوره خپلې ګټې پسې درومي
اخــر کې مې ګټــلی انقــلاب مــه رانــه وړه

۱۳۹۲/۱۰/۲۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محبت

چې یې کړی وي اقرار د محبت
ما لیدلی دی په دار د محبت

دښمني به د اغیار پر ځان مني
که څوک دروميي په نېغ لار د محبت

ورته کښېنه او څاره یې لویه لاره
چې شي پوه په پټ اسرار د محبت

د غلیم له جفا لاړل لرې لرې
شول یو ځای هلته په غار د محبت

د ملنګ رنګ چې په خپل حال پاتې نه دی
سوځېدلی په انګار د محبت

۱۳۹۲/۱۰/۳۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

بــې همــته لکــه ځــان دې کړمـــه زه
بيــا په ځـان باندې تـاوان دې کـــړمه زه

خدايـــږو لاړمـــه د کومــې بلا ښکار شوم
چې ملګـــرى د شيـــطان دې کړمـــه زه

اوس به څنګه په تيارو تر خپل آشنا ځم
بې نظــره بې چشـــمان دې کـــړمه زه

چــې مې کله د اشنا په پَله، پل کـېښود
انسـانـانـــو کې انسـان دې کـــړمه زه

چــې مې خوب د نيمې شپې ويل آبا ته
بنــدي شــوی په کنـعان دې کـــړمه زه

د ملنـــګ ياغــي قلـــم په ژړا ســـر شو
لکه اوښـــکه د آســـمان دې کـړمه زه

۱۳۹۲/۱۰/۳۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ننګ

پر تا غیـرت پر تا مې ننــګ خوښــېږي
ستا مې کلتور ستا مې فرهنګ خوښېږي

چې پــه سیــنه باندې زخــمونه منــي
په حوصلـــو کې مې پتنــګ خوښــېږي

د ښکلــو میــنه کې پلمــې وي ډېـرې
ځکــه مې میــنه د بـدرنګ خوښــېږي

جـوړه چــې درومــو د کابــل په سـفر
ګـرم موسـم کې مــې سالنګ خوښېږي

سپینــه کــوتره پــه آزاد ژونــدون کې
لــوړ الوتـل مې پـه ګـړنګ خوښـېږي

په خـــړ څـادر او خړ دستار کې ګرانه!
ستـا مې خویــونه د ملنــګ خوښېږي

۱۳۹۲/۱۲/۲۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اغزي

ګلابـه! سـتا تر څنـګه نن اغـزي راتـه بلا شـول
ها! پورې غونډۍ شاته مات کودي راته بلا شول

په مينـه نه پوهـېږم لا تر اوســـه ووړ ماشوم يم
چا ايښي راته لار کې شنه بنګـــړي راته بلا شول

هر وخت مې سر ټيټ او په ګـرېوان وينه راماته
کونـړه! ستا د ستر ځـنګل لرګـي راته بـلا شـول

ملنګه! نن مې هر يو تور پېکي روپۍ ته غل دی
بدرنګو ته چې نه شـــوم ګلالـــي راتـه بلا شول

۲۰۱۴/۳/۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوه

کریــه شپــه مې تــا پر سـر له ځـــان سره دعـــوه وه
نا وختــه پاڅېــدو کې مې شیـــطان سـره دعوه وه

زړګیـــه! ستا د لاسه پټـــې سترګې ځـــم زنـدان ته
چې زړه ځي هلته پښې ځي له چشمان سره دعوه وه

څښتـنه! بـــه پوهـــېږم آزمـــویـــنه تقــدیـــري ده
تعبیر مې د خــوبونو له کنـــعان ســـره دعـــوه وه

چې کلــه مې قضــا د ژونــدانه تـــرېنه پوښتـــله
نـور ســر په زنګـــانه مې له وجـــدان سره دعوه وه

ګیـــله لـــه پســـرلیه د نـــن وخـت وګـړو وکـــړه
بـــاران ســـره دعـوه وه، له آســـمان سره دعوه وه

راشـــه پســـرلیه! لاس دې یو کړه له ملنـــګ سره
چونغر په ژړا ســـر، له خواجه الوان سره دعوه وه

۲۰۱۴/۳/۱٦ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زولنې

ســـتا د زلفـــو زولانـه مــــې ژړوي
ستـا د مړو ســـترګو کاته مـې ژړوي

له ازله یې نصـــیب سرګـــرداني ده
دردېـــدلـــي پښـــتانه مـــــې ژړوي

نن یې تله د انصاف په لاس اخېستې
پردي سپک او خپل درانه مې ژړوي

د یوه پَل خاورې نه وي بل را درومي
اوږد کتـــار دې مېلـــمانه مې ژړوي

کله را به شــې د سـولې سپین سحره!
شېــبه وروسته ستـــا راتله مې ژړوي

ورتــه مه زوربېره خــوی یې ده ملنګه!
آشـنا ســـــر په زنګـــانه مـــې ژړوي

۱۳۹۲/۱۱/۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قلمه

قلمــه! مــا درته پــرون یو څــه د زړه وویل
تا سـم د واره هغــه څــه واړه په خــوله وویل

راباندې ټول خلـک خبر شـول پټه پاتې نه شوه
څــه اضافــي دې ورته نور زمـــوږ کـاله وویل

مـا درته ورځې د خوښـۍ په کــوتو وشمېرلې
تا راته بیا یو څه ګوډ مـات او نور څه مړه وویل

ته تـر قیامـته راسـره یې په دې پوه شـومه زه
وایـه! ګـړېږه چـا پـه امــر چـــا په پَله وویـل

ملنـــګه! تل کـوه دوستـــي له ښو کسانو سره
هســـې نه تا ته یو کاڼــــه او بل ړانـــده وویل

۱۳۹۲/۱۰/۲۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احترام

**چې عزت او احـــترام دې وي په کـــور کې**
**د يـــووالي ښه نظـام دې وي په کـــور کې**

**ښه اخلاقـو باندې خپل صورت سينګار کړي**
**په زړه ژبــه يو کـــلام دې وي په کـور کې**

**خامـــخا به خپـــلې موخې ته رسېــــږي**
**چې منلی خپل مقام دې وي په کـــور کې**

**چې ځښـــتن لا په ازل بـدبخــت پيـدا کړ**
**په دا نه کعـــبه احــرام دې وي په کور کې**

**لــــه دې بلـه نېکـمرغي به چـــېرته نه وي**
**چې مسجد او هم امـام دې وي په کور کې**

**ای ملنـــګه! د خــــالـق شکـــر ادا کــــړه**
**پاک سپېڅلی دين اسلام دې وي په کور کې**

۱۳۹۲کال
د عرفات مبارکه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حماسي غزل

زړګیــــه! زوړنـد د اُمېــد په تــنابو کې ښــــه یې
لالیــه ته هـــم د غلــیم په زنــدانو کې ښــــه یې

په پښـــو، لاسـو کې دې شـرنګار د زولنـو مزه کړې
دروازې بنـــدې، کړکۍ بنـدې، په تیارو کې ښه یې

د بـې ننــکۍ آواز دې را مه شـــه تر غـــوږه زمـا
هر یو انـــدام زنځیـــر تړلی په غــرمو کې ښـه یې

خیر که له تا پرته مې تور پیکی په کور کې سپین شو
په نن سبـا دې چې غولېــږم په وعـــدو کې ښه یې

په روغ ګرېوان روغه سینه مې چې ترخڼګ رانه شې
سوری ســوری دې سور ټټــر په پرهرو کې ښــه یې

په سـور سالو دې چې سرې وینې د سپین مخ پاکوم
په ښکلـــې مـخ د شهیـــدانو کتـــارو کې ښــــه یې

د ځانه جوړ کړه حـنظله په نیمه شپـــه کې ولاړ شه
ننبه غیـــرت کې راته پرېـــږده ننبـــانو کې ښـه یې

ملنـــــګه! لیکه حمــاسي اشعـــار قلـــم په ژبـه
په شاعـــرانو کې ستـــایلی په نظمـــو کې ښه یې

۱۳۹۲/۶/۱۳ل
خپله جونګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملامت

ها! سترګې ملامتې په ځیګر کړم ملامت
ریباره ملامت یې که دلبر کړم ملامت

خوني رنګه سالو قلمه راغله لویه لار کې
تقدیره ملامت یې که نظر کړم ملامت

واعظه! ته ګونګی یې او که حق ویلی نه شې
محرابه ملامت یې که منبر کړم ملامت

هر چا کاڼي اخیستي بې پوښتنې وېشتل کېږم
هواره ملامته او که غر کړم ملامت

جامه کې د دوستۍ یې د ابد پر خوب ویده کړم
اقراره ملامت یې که باور کړم ملامت

نن تله د انصاف په لاس راغلې ده ملنګه!
تیاره کړم ملامته او که لمر کړم ملامت

۱۳۹۱ د تلې ۲۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توشیح[1] غزل

ذاکـــر مې نه کړلې زړگیـــــه، ته پر بلـــه درومـــې
زما ضمیـــــره لېـــونیه، ته پـــــر بلـــــه درومـــې

کور یې مالــوم، در یې مالـوم دی نن ړانده ور درومي
زما له ځـــــان ســـره ملگـــریه، ته پر بلـــه درومې

راځـــه پوښتـــنه یې د میـــــنې میین زړه نـــه وکړو
دنـــگ د چنار په شــــان زلمیـه، ته پـــر بلـــه درومې

انـــــار دننـــه یمـــه ډک خـو ښـکاره هېـــڅ نه لرم
پــــه زړه زخمـــي یمه لالیـــــه، ته پـر بلـــه درومې

لمـــن دې نیســـم لکـــه بیـــا چې په ســفر روان یې
را نـه جــلا شـــــوې پردېســـیه، ته پر بلـــه درومې

له دنیـــاگۍ دې چـــې عُقبــا په خـپل ځـــان ومنــله
د ژونـــده خـــوښ یم په مرگیـــه، ته پر بلـــه درومـــې

هېر به دې نه کړي خوار ملنگ، خو ته یې هم هېر نه کړې
تر څنـگ یې مېـــشت کـړه گـاونډیه، ته پر بـــله درومـې

۲۹ د وري

[1] ـ د هر بیت د لومړي مسرې توری که یو ځای شي نو ذکرالله ترې جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې

**په بخـــت ویده آشنا ته ما پرون یو څه ویېلي**
**له خـــیال یې ټول هغه وتلـــي لکه نه راغلـــي**

**اوس پـه دې فکر اندېښـــنو یمه چورتونو وړی**
**نور یې شـړي له خپله ځانه موږ ته راشي ځغلي**

**صاحبـــه! راغلمـــه تر تا یو څـه پرې وکړه منتر**
**په نــاروا او په روا پسـې یې څــوک دي تللي**

**زه له تقـدیره ګیـــله من یم پر تا هسې اوښکې**
**له سترګو درومي بې اختـیاره دا چې زړه رټلي**

**راځه چې ورکړو ســره غاړه دا یې زه مـــلامت**
**غماز خو ویني یو ځـل بیـــا راته کـــاږه کتـلي**

**ملنګه! ځیر شه تور ښامار ته پـه رڼا مې چیچي**
**چې څوک په سمه لار روان دي نن یې بیا وژلي**

۱۳۹۱/۲/۳۱ل
د مظلوم یار شرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خزان

ما له يار سره اغيار په لار کې وليـــــد
ما بايللـی اعتبــار په لار کــې وليـــد

له ما مه کــوی پوښتـــنه ورته ګـــورئ!
يو ځل نه دا مې ځــو وار په لار کې وليد

نه تياره نه توره شپـــه وه چې غلـط شم
برالا مـې انتـــظار په لار کــې وليـــد

ګلابـــــي رنګه ملنـــګه خـــزان مه شې
نه مې ته، نه مې دستار په لار کې وليد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اختيار

**لکـــه چې پرېوزي غمـــې مې له چـــارګله ځيـــنې**
**داســـې جـــلا مې شـــو زړګی له خپل ګوګله ځينې**

**نن به توپـــير د آرتيـــنې او مېـــړه څنـــګه وکړم؟**
**دستمال، ګونګـرې څنـــګه بېل کړم له وربله ځينې**

**ادکۍ مـــورې ګيله مه کړه خپـل قســـمت دې ژاړه**
**ګرېـــوان دې څېـــرې شو هوښيار او له پاګله ځينې**

**له چـــانه وکړم لاس نېوی او له چا لـــرې لاړ شم**
**راته په ګـــوته کړئ شيـــخان له توره غلـــــه ځينې**

**خلک مې بولي چې اغزی دی او نفرت ترې وکړئ!**
**اغزی خو وينې چې ســـاتنه کـړي له ګلـــه ځينې**

**مـا خــو ژوندون د اَسارت پر ځان منـلی نـه دی**
**کاشـــکې آزاد شم او اختـــيار واخلم له بله ځينې**

**خاونـــده ورځ به دې اخـــتر، شپه به دې قدر ګنم**
**چې دا راغلـــي ببـــرته لاړ شي له کابلـــه ځينې**

**ملنګه! ځينې يې سپـين شعر او زه يې نثـــر بولم**
**چـې کله تـــــېره شي خـــبره له غزله ځينـــــې**

۱۳۹۲/۱/۲۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آزار

چـــې مـېږی يې آزار کړی نه وي شـته؟
چـــې ريـــبار يې زورولـی نه وي شـته؟

چې په زړه کې يې آشـنا وي پټ ساتلی
چې يې حال چـــا ته ويلی نـه وي شته؟

خامـــخا به يې رازونـــه بـــر مـــلا شي
شيطانت چې يې چا کړی نه وي شـته؟

تا ليدلی چې په لار کې دې ټک درکړي
چې ګاونډ کې چا ساتلی نه وي شـــته؟

ما کتل چې زه او ته يې سره بېل کـــړو
چې غمـــاز چا پېـــژندلی نه وي شتـه؟

ای ملنګه! ستا پر کرښو بد ګومان شوم
چې بې موخې دې ليکلی نه وي شته؟

۱۳۹۱/۴/۶ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازلي برخه

**دا ســـــتا په ياد مې څــو ځلې کوڅـــې څــارلي دي**
**چې بيـــا مـــې کــړو سترګو ســـتا په لور کتلـــي دي**

**ګلان دي، که اغزي دي ســـــتا د در راته محبوب دي**
**دا نـــــن مې ځـــــکه دواړه پــه اوربــل ټومبــلي دي**

**په نيت کې خدای کامياب کړم په کوڅه در برابر شوم**
**مــــــا لارې دې راتلــــو درتــه مــدام نيولـــي دي**

**چې ستا په مينه مست دي لېوني نه دي ټول روغ دي**
**په ټولــــو کې له ټولـو نه دوی ټـــول ښاغلـــي دي**

**په زړه يې بـــل څـــه نه شته بې له صدقه درته وايم**
**رنځور بيــــمار يې مه بوله ما ټـــول لېدلـــي دي**

**په دواړو ســـترګو ژاړي ديـــدنونه دې يار غـــواړي**
**په دغـــه محـــبت کې نــــور له خيــال وتلي دي**

**زه ګيــــر نن د اغـــيار په دام کې کــېوتم زړګـــيه!**
**له ډېره وخـــت په دې خـــوا يې دانې شېندلي دي**

**ملنګه! له قســـمت څــخه به ولــــې نه ژړيـــږې**
**په برخـــه ازلـــي دې انديښـــنې ليکلــــي دي**

۱۳۸۵/۱۱/۱۹ل
د سلطان داود شرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بغاوت

**کتــل کوي دوه ســترګې خو زړګی کړي بغــاوت**
**اُمېــد يې ډېــر ارت وي خو مــرګی کړي بغـاوت**

**مورِ ټول په دې اقـرار يو په يووالــي کې يو موټی**
**زمــورِ د کــور تر څنــګه ګاونــډی کــړي بغاوت**

**مجبــور يمه چې وکــړمه يرغل ســتا پر نــادودو**
**خپــل ولي مې په کاڼــو او پردی کــړي بغــاوت**

**په دې تمه به ناست وم چې څنګله ته به کړم تېښته**
**خبــر شوم ترېنــه دَم ګــړی زمــری کړي بغاوت**

**په عــذر عـذر تېــر مې کړو آشـنا ته لاس تر زنې**
**قسمت مې خوار پيـدا دی چې لالــی کړي بغاوت**

**دا نن چـــې زه روان يـــم پــر يوه او ته پـر بلــه**
**د زوی او پلار تر منــځه نن لمســـی کـړي بغـاوت**

**ملنــګه! ښه خبـر يې نه سـالو نه تور پېــکی شته**
**ګــودر په اوښـکو سر شو چې منــګی کړي بغاوت**

۱۳۹۲/۴/۱۵ل

سيد جمال الدين ښوونځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کاڼو ولي

هغــه څــوک چـې مـې پخـوا په کاڼـو ولي
نــن يې وينــمه چــې تــا په کاڼــو ولــي

څــوک چـــې نوم د سـولې نن په ژبه واخلي
بيـــا سبـــا يې په رښتــيا په کاڼـــو ولــي

ډلييـــزه ټـــول د خـــاورو مېـــلمانه کـــړي
شـــل پنـځه وېشـت بـــرالا په کاڼــو ولــي

بيـا قـــولزوم دې پـه څپـو راولـه خـــدايه!
هغه چـا تـه چې موسـی^(ع) په کاڼـــو ولــي

د خپـــل حســـن ملامت کړمـــه نـــړۍ تـــه
دا چـــې نـــن مـــې زليـــخا په کاڼـــو ولي

څه دې خيال دی د طايف ښاره خپل ځان ته
ســـتا په غېـــږ کې مې آقـا پـه کاڼـــو ولـي

نـن مـې اهـــل د زمـــان وليـــد په سترګو
نـــا روا پـــرېـــږدي روا په کاڼـــو ولـــي

پـــه خپـل ظلــم باندې وياړي او روان دي
زوی تـــه ګـــوره چـې آبـــا په کاڼـــو ولي

لـــه قلـــم ســـــره ســلا وکړه ملنــــګه!
ګــــــوره! بيـــا به دې دنيـــا په کاڼـو ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځاځکي

په ســـر مې د ټټــر ځــاځکي باران ولګـــېده
دا ستا د لـــوري ما بانـــدې احســـان ولګـــېده

غریبه دنیاګۍ کـې مې هر چاته سترګې خلاصې
په تمـــه د وصـــال پر مـــا جهـــان ولګـــېده

ویده مخلـوق راویښ شو د لېـــدلو انتـظار کړي
پـــه لاره کـــې ولاړ ما په خپــل ځان ولګـــېده

د تـــورې تیـــارې غلـه! په قرار قرار مې پرېږده
هر څـــه دې رانه یـــوړل زوړ او ځـوان ولګـېده

اخېستې یې ده مـا پسـې په نه ګـناه مې وژنـې
انصـــاف چا ســـره نه شـــته فقـیر، خان ولګېده

د خدای(ج) ملکونه ډېر دي ولې بلې خواته نه ځې
په زړه کــې د آســیا مــې جوړ توپـــان ولګـېده

ملنـــګه! د انصـــاف تلـــه دې غیر لاســـته لاړه
خـــالـي لـــه بـــرکته دستـــرخوان ولګـــېده

۱۳۸۸/۳/۲۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څو توبې

د زړه وینې په کوپړۍ د سر کې څښمه
د غمـونو افسـانې مې شــوې ملګــرې

نــه رغــېږم نه اُمیــد د رغیـــدو شته
له تا لرې زولنــې مې شـــوې ملګــرې

په رنځو ستــرګو یې وینــم ما خـطا کړې
جادوګرې سترګې شنې مې شوې ملګرې

دا چې ټول مې لیــونی، لیــونی بولي
د نا اهلــو قافلــې مې شــوې ملګـرې

عمر تیر شو او تېرېږي خدایه(ج) څنـګه؟
بنــه ژېړه تــرانې مې شوې ملګـــرې

نه مې وکړو عبــادت پر نیمه شپــه کې
بس چې کړې څو توبې مې شوې ملګرې

نن خــالي لاســونه لاړم ای ملنـــګه!
په زړګي څو خاطرې مې شوې ملګـرې

۱۳۹۸/۴/۱۸ل
۳:۰۰ ب ظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خو چې وای

چې د یـــار دې در لرګـــی وی، خو چې وای
خیـــر که خپـلونه پردی وی، خـــــو چې وای

ګرځېـــدلی ببـــر ســـر څېـــرې ګـرېوان زه
لېـــونو کـې لېـونی وی، خـــو چـــې وای

خیر که خوب او آرام نه مې وای په ژوند کې
چې آشـــنا ســـره ناستـی وی، خـو چې وای

په دنیـــا کـــې دې څه غـــم راســـره نه وی
د چینار په ســـر کارغی وی، خـــو چـې وای

آشـــنا ما سره مشـــغول چې همېـــشه وی
د لمـــن یې تـــور پاولـی وی، خو چې وای

نـــه مې چـــا ســـره وای ناســـته نـــه ولاړه
وچ دې ژمي یو نیالګی وی، خو چـــې وای

زه ملنـــــګ یم خوی خصلت د ملنـګي کړم
په ګـــودر یې مات منګی وی خو چې وای

۲۹/۱۲/۱۴۲۷ھ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوښ مې نه دی

چې غلام ته غلامي کړي خوښ مې نه دی
چې اغیار ته سلامي کړي خوښ مې نه دی

چې د بل دې لاس امسا شي پرې لعنت شه
بیا چې غیر ته هر کلي کړي خوښ مې نه دی

نه به یې واخلم نه به یې وپلورم ورباندې
د سود خورو آشنایي کړي خوښ مې نه دی

چې خوري غوښې او پلو الله ورکړی
اندېښنه د سبایي کړي خوښ مې نه دی

دوه دوستان که وي خپه الله به یې جوړ کړي
چې تر منځ یې شیطاني کړي خوښ مې نه دی

د مخلوق پر وړاندې پورته پورته غورځي
شیخ بې ځایه ریائي کړي خوښ مې نه دی

په تسبو او ستره رېره یې غلط نه شې
عبادت فرمایشي کړي خوښ مې نه دی

چې لایق مې د آشنا د مینې نه وي
بیا تر مخ یې ریباري کړي خوښ مې نه دی

ای ملنګه! نور یې نوم په خوله وانخلې
چې غلیم ته آبادي کړي خوښ مې نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوښ یم

**ګــلابه! ســتا لپـــاره له اغــزیو سره خــوښ یم**
**آشــنا ستا د کــوڅې له ګاونډیو سـره خــوښ یم**

**نږدې ده چې دې سمــې پر ځای وخېـــژمه غره ته**
**څنـــګله! در روان یـــم له زمریو ســره خوښ یم**

**زه سـتا د ناکـــردو دې لاسه څمـــه له دې ښـــاره**
**زړګیـــــه! لـــرې، لـــرې له پردیـــو سره خـوښ یم**

**غلـــیم ته مې کـه ستا سینه ســپر نه شـــو ادکې**
**مورجانې! د خورکۍ ترخڅنګ بنګړیو سره خوښ یم**

**کــه خـــرڅه مې شمـله د پلار نیکه په بېګانه کړه**
**ملنـګه! له دې وروسته له لرګیـــو ســره خوښ یم**

۱۳۸۹/۲/۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چا څه!

**دا چې ســـتا په عشـــق اقرار یم د چـا څه**
**بیا چې ســـــتا په ســـر په دار یم د چا څه**

**د زړه وینه مې په خپـــــله خوښه ورکـــړه**
**اوس که څـــومره زه بېـــمار یم د چـا څه**

**ویلې کېـــــږي چـــې په اور د کبابیـــانو**
**کـــه زه وازده د جـــــزار یم د چـا څــــه**

**که چاړه باندې مې پوست د تن جلا کړي**
**دې چـړې تـه چې تیـار یم د چــا څــه**

**که ګومان د لېـــوني رابانـــدې کـــاندي**
**لېـــونی که دې دربــــار یم د چــــا څه**

**که په دښته او بیـــابان بې هوده ګـرځم**
**په جامه یې چـې سیـــنګار یم د چا څه**

**که غنـم راتــه په زړه زخمي ځوک وایي**
**خو چـې ډک لکـــه آنـار یـم د چـا څـه**

**د نړۍ مشتریان ټـــول پرې را خبر شئ!**
**چې ملنګ یې خریـــدار یم دې چـا څه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه کوم کلی دی

**چې مې زړګی پرې هوســـېږي هغه کوم کلی دی**
**چې مې جانان په کې اوسېږي هغه کوم کلی دی**

**چــې مې زړګــی په ژړا سـر شي او غـرېږي راته**
**له سترګو اوښکې چې تويېږي هغه کوم کلی دی**

**راشــه در ونــايم په ګوتــه هــم دا اوس مې ولید**
**چې انـوارات پرې راورېــږي هغه کوم کلی دی**

**نښـې يې ډېرې خـــو يـــوه يې شين ګنبد وايمه**
**چې له هېـچانه نـه ورکـــېږي هغه کوم کلی دی**

**څومره ظالـم ومـــه په ځـان چې ورته نه راتلمه**
**چې مې باور پرې قوي کېږي هغه کوم کلی دی**

**څـه عـــجايب او غـــرايب مـې ميــنان وليـــدل**
**چې تور له سپين سره ګړېږي هغه کوم کلی دی**

**پـه ګـــونګې ژبـــه د مين په مينه څنګه پوه شم**
**په ايشـارو هم نه پوهـــېږي هغـــه کوم کلی دی**

**ميــنه يـوه ده ميـــنان يې ډېـــر بې حـده وينم**
**چې پــه کوڅـو کې غلطېږي هغه کوم کلی دی**

**ملنــګه! دومره پته بس ده نور قلم پرې بند کړه**
**عاشق په زړه چې پټ ژړېږي هغه کوم کلی دی**

۱۴۳۰/۱۱/۱۲ه ق ـ نبوي جومات، مدينه منوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورک جانان

په سپیـــنه رڼا ورځ کې مې جـانان ورک کـړی دی
د ســرو شـونډو له پاسـه مې پېزوان ورک کړی دی

څومــره هلــې ځلې مــې چــې وکــړې پیـدا نه شو
د سپین او تور په منځ کې مې میزان ورک کړی دی

زمــا د لاس امسـا وه نـن اغیــار تـه پـه کاربـږي
پلورمــه یې په خپــله مـا نشــان ورک کــړی دی

مینه مینه کړله مې تک سپـین رنـګ مې بـدل شـو
ځیـر ولـې ورته نه شم ما مــرجان ورک کــړی دی

ملنــګ به یې هـرو مـرو ژړا په خپـل سبحان کړي
بې وخته یې چې څیرې خړ ګرېوان ورک کړی دی

۲۱/۸/۲۰۰۸ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یاغي

پــه نظــــر درتــــه ښــکاره شـوم خـــوبه وړی
دا چـــې زه پر باطـــــن روغ په صـــــورت مـړی

څــه دې خیـــال دی چـــې د هېڅ کولو نه یـم!
لـه ناخــــوالو جنـــــجالونو ســتړی ســــتړی

بـریالــی لا پـــه ازل کـــې زه پـــر تـــا یــــم
د مـــوسی دې لاس امســـا یـــم تـــه یې پـــړی

دا چې ته کړې راته گواښ په سر مې پښې ږدې
زرغونېــــږم بــــه پـــر ځمــــکه لکـــــه زړی

له ملنــگ څخــه نــــږدې قلــم یاغــــي شـي
چـــې اغیـــار یې دی لـــه یـــار ســـره لـړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اغیار په رګونو کې

راتــــه ښــــکاري قــافلې نه شــــوم جدا
له کعـــــبې او له مـــــکې نه شوم جـــدا

په رګـــونو کې اغیـــار مې ځای نیـولی
غلـــط شـوی له کوڅــــې نه شــــوم جدا

اوس به خود دې بېګانه په دام کې ګیر یم
چـــې د ســـتا له دروازې نه شـــوم جــدا

ســرکشي مـې له هغــه وخته حساب شوه
چې مې کــړې وه وعدې نه شـــوم جدا

بریالــی به شــــمه هلتــــه ای ملنـــګه!
چې شیطان له وسوســې نه شوم جـــدا

۱۳۸۹/۲/۱۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اندېښنې

کــه تور توپــان توري تیــارې وې تا به نه پرېږدمه
خیـــر که له بل سره وعـــدې وې تــا به نه پرېږدمــه

دا مې اقــرار دا مـــې اســـرار را ســره ومنـــه ته
که په آسمان وربځې خپـرې وې تا به نه پرېـــږدمه

که دې کـــوڅې او لارې بندې د دیـدن ټولې شوې
که ببـر ســر او اندېښېـــنې وې تا به نـه پرېـــږدمه

خیـــر که تنـــها یې دا ونه وایــــې تنــها یمـه زه
زمـــا لا مخــکې دا نـــارې وې تا بـه نـه پـرېږدمـه

ګـــوره! غلط د زمانې چې غمـــازان دې نه کـــړي
که مې په لاس کې شمعې مړې وې تا به نه پرېږدمه

که جــــدایي یې زمـــا او ســـتا په دېـــوالونو کړله
په دغـــــه باب که فیـــصلې وې تا به نه پـــرېږدمه

وایي ملنـګ چې لاس په لاس ځمـه له یاره ســـره!
که د ژونـــد سختـــې مرحلـې وې تا به نه پرېږدمه

۱۳۸۸/۴/۲۳ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انسان ته خطاب

په ځوانۍ باندې غره يې ګرځې چاک
له مادي نه خبر نه يې چې يې خاک

که په څومره تکبر او غرور مست يې
يو ځل لوېږې به د بل انسان په واک

که قرآن او سنت دواړه درته وايي
ته لا ګرځې ډېر بې لارې بې ادراک

خلاص به نه شې بې شفيع او پيغمبره
که دې ډېره شي دنيا تر هزار لاک

د خپل عمر په قيمت قدر پوه نه شوې
نه دې وکړلو په شپو او ورځو باک

خوند د زهرو او شرابو سره بېل دي
مزه نه شته په نارنجو کې د ناک

ملنګ وايي! زه په لار دې درويشانو
درويشان دي چې ختلي تر افلاک

۲۰۰٦/۴/۹ع، ۱:۱۵غرمه
جونګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انګازه شوه

نا ببــره مې تـــــر غـــوږه انـــګازه شـــوه
چې مې خونه د خپل وروr په لاس چپه شوه

پــــر يــــوه تېغـــر به يو ځـــای کېـــناستلو
دغـــه څـــوک ؤ چې تر منـځ مو فاصله شوه

زه په کـــوم ګنـــاه مجـــرم يم ګڼـــل شوی
چې مـې ډکـــه له بچـــو نه هديـــره شـــوه

خورکۍ کونډې، مـورکۍ بوره به تر څو وي
د مظلوم ولس نور ختـــــمه حوصـــــله شوه

يو مو وشــــاړه ســـل نـــور راته پيـــدا شو
دا د چـــا له خـــوا ورکـــړې اجـــازه شـــوه

دا تر څو به د پـــــردو په خـــوله جـــوړېږو
غېږه راکړه نـوره ختــــمه مو جـــګړه شوه

ملنګ وايـــي! دغـــه واک قلم ته ورکـــړئ
رانه جـــوړه په نـــــړۍ کې ډرامه شـــوه

۱۳۸۷/۱۰/۳ل
د ارواښاد حاجي نيک محمد خونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بد نصيبه

دا زه يــــم بد نصـــيبه که دنيــا ده بد نصـــيبه
ادې وه بـــــد نصيـــبه که آبــا ده بد نصيـــبه

د هر چا څپېړ خور شومه په روڼ ميدان مې ولي
په نېـــــغو راکـــتو کې مې ليـــلا ده بد نصـــيبه

نه ستــرګې مې شي ټيټې او نه سر د ټيټېدو دی
په ســـر سر چې وهي مې دا له تا ده بد نصـيبه

د خپل پلار بدل اخلي والله بل مطلب يې نه دی
لمسی د اکبـــر خان شوم او که نيا ده بد نصـيبه

ملنګ شومه کچکول په لاس رڼې سترګې ولاړ يم
نـــور نه يم بد قســـمته او نـــه دا ده بـــد نصيـبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بد قسمته

که خـــبر شي ته زمــا د زړه پـــه داغ
نور جـدا به کړي رښـــتيا او هــم درواغ

کـــه دي ونيـــوه لمـــن زمـــا د يـــار
سپين کـــوتر به درنه جوړ شي که يې زاغ

چې په زړه باندې يې غم د خپل آشنا وي
بيا به کلــه کـــړي آرام يا به شـــي چاغ

عاشقـــان بې له ادرســـه يار ته نه ځـــي
زمـــا د يار خـــونه مالـــومه بې بيـــراغ

ای ملنـــګه! د دنيـــا ودانـــۍ ګـــوره
پرې به يې ورنه کـړم اغزی د يـار د باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې قلنګه ملنګ

چې د لرې نظــر نه کړي څوان دنــګ نه دی
چې دې لاس، پښې مات نه کړي ګړنګ نه دی

شین صورت او کوږ ورمېږ یې چې یاد نه کړې
چې په اصــل کې تـره وي بادرنـــګ نه دی

چــې د ځمــکې نه سره سپیــن پرې راوباسې
د آهـن جـــوړه قولبـــه ده کولنـــګ نه دی

چې یې یار له خـــواږه خـوبه بیدار نه کړو
دا آواز مې د تمبـــــور او ډول ډنـګ نه دی

چې ســـردار د درینـــده او د ځنـــګله دی
په نامــه زمــری یادېــږي پلنـــګ نـه دی

چې په تَله دروند تالــه شــــي نـام هغه دی
چې د یار په میـنه موړ نه شي ننــګ نه دی

ای ملنـــګه! بـې قلنـــګه ملنـــګي کـــړه
چې مطلب د چـــا قلنــګ وي ملنګ نه دی

۱۳۸۵/٦/۲۸ل
د مازدیګر۴:۵۰، خلپه جونګره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیمار

د مینـــې په تور، تور مې ګنـــــاهکار لیدلی دی
له خـــوا د هغـــو دغو مـــې پر دار لیـــدلی دی

آدمـــه(ع) له هغـــې دمه مې لاس پښې زولنې دي
سیـــنه کې مې اغیار لکـــه خپل یار لیـــدلی دی

دښـمن د لاسه ولاړه د آشـــنا په لـــوري درومي
موسی(ع) په سترګو ښکار چې مې انګار لیدلی دی

د زلفو او سپـین مخ نه دې قـــربان شم د زړه سره
پر تا بانـــدې مین مې رب غفـــار(ج) لیـــدلی دی

کله به یې ټولی وینـم چې کېني په یو ځای کې
کتار مې د بلبـــــــلو تـار په تـــار لیـــدلی دی

ډېره مـــوده کېږي چــې د یـــار له غېـــږې تللی
په ژوند د دنیـــاګی کې مې بېمار لیـــدلی دی

دربـار ته دې ملـــنګ نن په خالي لاسو ولاړ دی
ول ول پـر غاړه پـــروت ما یې دستار لیدلی دی

۱۳۸۸/۱۱/۲۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیدار

د غــماز هـــر یو ګــوزار ته یم بیـــدار
که هــر څـومره راته نېسـي لـــویه لار

کله مخـــکې کله وروسته په شـــا ګورم
له ښـي اړخ او له کیـڼ اړخ نه یم په ډار

د آشنا په دَر که څـــومره سختي وینـم
د بـــل دَر ګـل به ور نه کړمه په خــــار

معشـــوقه راته د هـــر څه نه ده ګـرانه
مال او سر مې ترې قربان شه په څو وار

نور به لاړ نه شـــم د چـــا په اوتو، بوتو
پېـــژندلی مـــا د خپل لستـــوڼي مار

ما چې کلــه کړه پیـدا د آشـــنا خونه
سمدستــي شومه د بل له خـــوا په دار

اوس ملنګ په عاشقانو کې حساب کړه
دا تر څـو به ګرځـي ســـتا په لور کنار

۱۳۹۰/۹/۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرې پایم

تصـــویر دې راته ګـــرانه به خـــوبونو کـې راځي
دا ستا دې خولې خبـــرې زما ســـوالونو کې راځي

زه ناســـت درته کـــــوڅه کې د راتلو په انتظار یم
دا ستا د ګـــوتو شمـېر مې په فـــالونو کـــې راځي

په شـــکل د یو چـــا غوندې شمـېرمه د لاس ګوتې
ستا ورځـــې مې پـــوره په حســـابونو کې راځـــي

نســـیمه سبـــایي راباڼـــدې ته هـــم ښه لګـــېږي
د یـــــار مازیـــګرې مـــې په یـــادونو کې راځـــي

که لمر ده که سپوږمۍ ده مخ د یار ته کتی نه شي
پـــه ښکـــته کتـل غـــواړي تعظـیمونو کې راځـي

مجـــرمه زلیـــخا که د یوسف(ع) پر حســـــن بولۍ!
د یار حســن مې وړاندې په حســـنونو کـې راځي

که خـــلک ورته نوم د لېـــوني لېـــوني اخـــلي
پـه تمـــه د وصـــال یې در بـــارونو کې راځـــي

ســـر پر زنـــګون ایښې د آشنا په غم کې ډوب یم
د یار نوم مې هر وخت په مجلـــسونو کې راځـــي

ملنـګ دې نن مـــزار ته درتـلل غـــواړي بې واره
دعـــوت یې ســـتا د لـوري فرمـــانونو کـې راځي

۱۳۸۶/۱۰/۳۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

غوښې زما وخوړئ خو هډوکي شپېلوئ مې مه
ژبه پښتنه یمه په غیرو کې لړئ مې مه

څومره ښه درنه یمه، خوږه یمه، پسته یمه
ارزښت مې ډېر اوچت دی په ارزانو شمېرئ مې مه

له چا نه درته پاتې یم سوغات یمه، میراث یمه
لږ شرم خجالت وکړئ هر چا ته پرزوئ مې مه

تاج دې د نیکه یمه پرونی د آنا دې یم
په دواړو سترګو ښکل مې کړئ بې ځایه غورزوئ مې مه

اغیار که په یوه او بل نامه باندې ستایلې یم
تر دې وخته چې روغه یم ګرېوان راڅېروئ مې مه

خیر که وروسته پاتې یم زما نېمګرتیا مه بولئ!
ومنئ! پر ځان باندې چې نور تکلیفوئ مې مه

د غاړې مې تعویذ کړه ای ملنګه پردې پوه شه ته
ستا د رنځ دوا یمه له غاړې بېلوئ مې مه

۱۳۸۷/۱/۲۴ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تناب تړلی

**صفـــت به یې د حســـن په رباب بانـدې ســتایم**
**د ســـرو ســـترګو باڼه به یې کتــاب باندې ســتایم**

**دا سترګې دا باڼـه و چې ملګـــری د مجنون شوم**
**لیلا سره یو ځای به یې په خـواب باندې ســــتایم**

**په خـــوب کې آرام نه لـرم د یار له درد او غـمه**
**بیا ټـوله شپـــه رڼه به یې عـــذاب باندې ســتایم**

**هر څو که لرې لـرې یم زړګی مې در نږدې دی**
**تـــړلی لـه ازل بـه یـې تنـاب بانـــدې ســـتایم**

**زاهـــد مـې میـــخانه کې له ســـاقي سره لیدلو**
**همــــدغـه فیصـــله به یې محـراب باندې ستایم**

**په ګوتـــو دې صفـــت یاره ملنـــګ کولی نه شي**
**حسـاب به یې په شګو دې دریاب بانـدې ستایم**

۱۳۸۷/۴/۱۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په جبين خال

له خـــدايه وېره هر وخـت له انسانه سره ښايي
عمــل دې مسلـــمانه لـه قـــرآنه ســـره ښايي

په وينبه يم ويـــده د تـــورو زلفـــو په چمن کې
تصوير دې راته ســـم آن له آســـمانه سره ښايي

هر خواته مې کتلې ســـــتا په ياد به مې ژړلـــې
تنـــها دې ســـفرونه له بيـــابانه ســـره ښـــايي

شين خال مې په جبين باندې د ستا په نامه اېښی
اثر د سپيـــــن تنـدي دې له ايمـــانه ســـره ښايي

بل چا ته چې سر ټيټ نه کړې ملنګه بې له خدايه!
سترتوب او لـــويي دواړه له سبـــحانه سره ښـــايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خوب ويده

په خوب بانـدې ويده ومـه بيدار دې ولې کړم؟
مشکل مې نور ډېر زيات و انتظار دې ولې کړم؟

په ګټـــه او تاوان نه پوهېـــدم لکــــه ماشـــوم
له ځان سره دې بوتلمه هوښيار دې ولــې کړم؟

زه په څه خبر ومه چې دام به وي او ګير به شم
هـوا کــې يو مرغه وم ګرفتـــار دې ولــــې کړم؟

دا دومره ګناهکار يم عاشقانو کې ځان شمېرم
په ډېر ناڅېز خبره کې سنګسار دې ولې کړم؟

زه واى بل آشـنا واى دواړه يو ځـاى لوبېدلى
غمازه! کور دې وران شه ناقرار دې ولې کړم؟

په ژوند مې قدر نه کوې مرګى مې درته ښه دى
پلمه مې کړې دنيا ته جوړ مـزار دې ولې کړم؟

له ما ســـــره وعده وکړې وفــــا ورباندې نه کړې
ملنګ وايي! بې وخته په سينګار دې ولې کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ګیله یم

له ســرو نه په ګیــله یمه له تــور نه په ګیــله یم
له پــټ نه به ګیــله یم له ســر تور نه په ګیــله یم

د سـرو پیغام مې دا و چې به کور کالي ډوډۍ وي
د شـاتو پر ځــای ډک د زهرو شـکور نه په ګیله یم

دا خــاوره د مــلالـې او ټاټــوبی د نــازو دی
له هر خوا پرې حملې دي شر او شور نه په ګیله یم

لوونه د غبـرګولي میاشــت کې کــېږي د غــنمو
پر ما هر وخـت لو ګډ دی لو او لور نه په ګیـله یم

د سر سړی مې وژني او قــاتل یې مالــوم نه دی
پوښتنه مې نن نه کــړي مشـر ورور نه په ګیله یم

په بد نظر چې ګورې دواړه سترګې دې ړنـدې شه
زما د کور په خــوا کې له بل کــور نه په ګیـله یم

دا زړه مې راته وایي! چې ملنګ سره لاس یو کړه
له دې سلــوک رفتـار د میرې مور نه په ګیــله یم

۱۳۸۶/۲/۱۳ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په هوش

خلکـــه! زه نـه یـــم ویده؛ یمه پـــه هوش
خیر که درونـد یم نـن په ژبه او په ګـــوش

دا چـــې زه د یار له غـــمه ټول لـــړزېږم
د اور زور دی چې خوټېږمه چـــای جوش

دا یو درد او آفـــت نه دی چې به تېر شي
ډېـــــر دردونـه آفتــــونه زمـــا په دوش

څوک به څه او څوک به څه راته آواز کړي
زه د هـــر ســـایل ځـواب ته یم خـــاموش

زه د یـار په وفـــا هر وختـــــي نـــازېږم
دا چې زه شوم بـې وفا شوم بې سر پوش

معشوقه مې د ژونـــدون دارو درمـل ده
ولـــې نـــه کـــوي آواز راتـــه د نـــوش

یو ځل مـاته خو نظـــر د رحــــمت وکړه
زه ولاړ د ســـتا په در یـم بې پـای پوش

ای ملنګه! نـن دې وار د آشـــنایي ده
چې پـــراخه یار نیـــولې ده آغـــوش

۱۳۸۵/۸/۲۹ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیغام

**زمـــا د ژونـد کتـــابه ته غړېـــږې او کـه نه؟**
**د عشق لويـه دريـــابه ته ختـمېږې او که نه؟**

**څپو دې پـه مـــخ وړی یم تر ډېره حـده لرې**
**د مينې ســتر ســـيلابه ته درېـــږې او کـه نه؟**

**ريـــبار مــې درلېږلی پيغامونه که قبول کړې**
**زمـا د زړه تـــنابه تـــړل کېـــږې او کـــه نه؟**

**د زړه خبـــــره وکـړه راته ته په نـــرمو شونډو**
**زما په ځېر احبابه چـــې زورېـــږې او که نه؟**

**د تور او سپين توپير به هلته وشي د زړه سره**
**چې وشــــي انقـلابه پرې پوهـــېږې او که نه؟**

**ملنګ دې له کچکول سره په دَر بانـــدې ولاړ**
**ژړېږي دې په بـابه تـرې خوښېږې او که نه؟**

۱۳۸۸/۱۲/۲۹ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تعبیر

تعبیر یې د خــوبونو په تصــویر کې راته ښــکاري
د ژونــد خـواږه یادونه یې ضمیر کې راته ښکاري

زمـــــا خـــواته پـــټ پـــټ یې له نقابه راکتـــلې
پوره به شي ارمـان مې په تقدیر کې راته ښــکاري

له عقـــل نه خـالي یې په کـــوڅه ور برابر شـوم
دا نښــې دا وعـدې یې په تعمیر کې راته ښکاري

چې مـا گناهکار نه کړې او مجرم مه راته وایاست
کارونـــه د ازل دي په تحـــریر کې راته ښـــکاري

ملنـگ مې ملنـگ نه شو او نه سر په بیـــابان شو
له ډېره وخت په دې خوا په بهیر کې راته ښکاري

۱۳۸۸/٦/۴ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تور بوراګی

**د ستا له خوا چې راشي پيغامونه به دې ښکل کړم**
**په لاس باندې ليکلي مکتوبونه به دې ښکل کړم**

**پر مخ باندې پرتې دې تاو راتاو لکه ماران دي**
**د زلفو هر يو تار دې ولونه به دې ښکل کړم**

**اوس چې در مين شوم نور پروا د دنيا نه کړم زه**
**د خدای(ج) لپاره څه کړې پښې لاسونه به دې ښکل کړم**

**که څومره ناروا راسره ته کړې خير دی خير دی**
**قدم به ږدم ور باندې ستمونه به دې ښکل کړم**

**له رنګه که تک تور يې بوراګيه ما ته ګران يې**
**پر مخ چې ورلګېږي وزرونه به دې ښکل کړم**

**پر حقه کړي چې مينه زما د سر د سترګو تور ياست**
**منصوره! تا به ستايم او دارونه به دې ښکل کړم**

**د زرو قدر شته دی د رزګر سره که پوه يې**
**د ستا دې کوڅې خړ پړ دېوالونه به دې ښکل کړم**

**ملنګ به دې دَربار خاورې پر سترګو باندې مښي**
**سينه باندې به درشم مزارونه به دې ښکل کړم**

۱۳۸٦/۹/۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توره تياره

دې تـوره تيـاره کې دې په څــه وپېژنم؟
يار او اغيـــار دواړه په کوم کړه وپـــېژنم

شيخ په ميـــخانه کې له ميـخور سره ولاړ
دا نو څه تقــوا شوه چې يې زه وپـــېژنم

دا بيـنا ســـترګې ړندول تر محشر غواړي
سـتا څنـګه رضا ده چــې يې مړه وپېژنم؟

خفه چې شوې ملنګه ته او کچکول دواړه
څوک په دې خبـره کې نـور پـړه وپېژنم

۱۳۸۷/۱۰/۲۴ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جام

یاغـــي زړګیـــه! ولې ســـتا له دامه سره څـه
له پیـــله خبـــر نه یې لـــه انجـامه سـره څـه

لاړې تر مکې خو چــې عمـل ور باندې نه کړې
حاجـــي صاحبـه! سـتا نو له احـرامه سـره څه

یوازې په دې ویاړې چې شریک شوې په پیالې
په مینه کې چې مـوړ نه شې له جامه سـره څه

خود به په سرو سـترګو له فراقـــه تل ژړېــږې
چې ونه خـورې ډغـرې لـــه یو ګامه ســـره څه

په شکل دې دوه تـــورو یو پر بل کې ور مدغم
چـــې وړ د ادغـــام نه یې له ادغـــامه سره څه

څـــو چې په رڼـو سـترګو دیـدن د یار ونه کړم
قلـــم کاغـــذ پر مـخ بانـدې سلامه ســـره څه

لارې د راتلـــو یې ورتـــه څـــاره ای ملنـــګه!
د ستا یې پر وعـــدو سهار ماښـــامه ســـره څه

۱۳۸۹/۲/۱۴ل

۶:۴۴ماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جدا شه

فکــر خیــال مې راتــه وایي چې تنها شه
لــه دنیـــا او ما فیــــها څخـــه جـــدا شه

ګـــوزاره وکــــړه یـــوازې لـــــه هر چــا نه
ګوښــه کېــنه لاس پر ســـر له دې دنیا شه

میــــــنه مــه کـوه لــــه چا سره بې یـــاره
د پتنــــګ په څـېر راتاو له سپـین رڼـا شه

چې وصـال دې شي نصیب د تورو سـترګو
د صیـــاد په لاس لوېدلــی ترې خــطا شــه

درته ناست چې رقیبان دي په مورچل کې
ته پرې وار کوه لومـړی پـرې ســـربالا شه

د هجـران په اور سوځېـــږم دارو نــه شته
فیصـــله مــې د خـــالق ده پــرې رضــا شه

لــه هــر چــا چې دې ســـاتله پټـــه پټــه
ای ملنــــګه! آشـــنایي دې بـــرالا شـــه

۱۳۸۵/۴/۱۲ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښېرې ګرېوان

چـې له تـا ســـــره یو ځای وای جدا نه وای
خیر که کلــه مــې خنــدا وای ژړا نـــه وای

ګرځېـــدلی ســـــر ابله ښـېرې ګرېــوان زه
د شـپې ورځــې مـــې آرام په صحـرا نه وای

د خوراک پروا مـــې نـه وای چې دیـدن وای
مېـــوه داره ونـــه شـــــنه وای چـــنار نه وای

په هـر وخـــت مې مشــغولا وای له ګــلابه
ښېـــرې شــــوی په اغـــزو زه بــورا نه وای

د کوتــرې په مثـــــال پـه ګـړنګ ناسـت وای
د لحــــد ســـــره وفــا او جفـــا نـــه وای

چې هـــر څــــه وای تېرېــدلی په دنیـــا کې
مشــــکلات راتـــه پــراتـه په عُقبــا نـه وای

څه خبـــر ومه چـې میـــنه لـــوی مـــرض ده
آه! افســـوس چې پـرې عاشـــق مبتلا نه وای

خدای(ج) دې فضل کړي په لوی دریاب لاهو شو
بې ګـــودره! ګـــډ ملنـګ ذکـــر الله نـــه وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوبه وړي

ســتا د میــــنې خـــریدار یمـــه په حق
ســتا په لار کې انتـــظار یمـــه پـه حق

همېشه دې د راتلو په تمه ناســـت یـم
ستا له عشقه بې قـــرار یمـــه په حـــق

هېڅ پروا به مې په ټول عمر کې نه وي
چـې په میـــنه دې په دار یمـه په حق

څوک دنیا او ما فیها غواړي له خدایه(ج)
زه لــه هــر څـــه نه بې زار یمه په حق

نا خبـــره ډېـــر پـــراته دي خوبه وړي
ولـې زه ورتـــه بیـــــدار یمه په حـــق

زه ملنـــګ په ملنـــګانو کې ملنګ یم
خو په مینه کې مالـــدار یمه په حـق

۱۳۸٦/٦/۳۱ل
د مبارکې روژې لومړۍ شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رڼه شپه

**سـر په زنــګون پړدمـه له ګـرېوان سره خبرې کړم**
**تېره چې شپه، ورځ شي له وجدان سره خبرې کړم**

**زړه مې راتــه وايي چې لــه خلکــو کنــاره شمه**
**فکر په تــال وزانګــم له ځــان سره خبــرې کړم**

**سپـــوږمۍ د څوارلســمې ته خپل دردونه ووايــم**
**ښکلــې رڼه شپـــه کې له آسمان سره خبرې کړم**

**توپير د ملامـت او سـلامت چــې پــه کې نه شـته**
**ښار دې بې پوښتنې له زنـدان سـره خبرې کـړم**

**ومه د آدم[ع] اولاد استوګـــنه مــې جـنت کې وه**
**لیــکه د ازل وه له شيــطان سـره خبــرې کړم**

**ميـــنه د آشـنا کې سوځېـدل او تړل دواړه شته**
**منځ د سرکي اور کې له جانان سـره خبرې کړم**

**پېټــې د ګنــاه وو مې بار کـــړی ور روان يمـــه**
**نوم د مغفرت مې له سبـحان[ج] سره خبــرې کړم**

**سپينې جامې توري کړې ملنګ په عاشقۍ باندې**
**غلـــی دروازه کې لــه دربان سـره خبـــرې کړم**

۱۳۸۷/۲/۲۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړه مې يو چا نه ډېر خفه دی خـو بس څه وکړمـه
دا چې ترلی په وعــده دی خو بـس څـه وکــړمه

وړوکی نه دی چې په سر باندې يې لاس تېر کړمه
په نه خبــره په پلــمه دی خـــو بس څه وکــړمه

کــه بې ګـــودره ورګـــډېږم زنـده ګي تبــاه شوه
تر مـخ دريـــاب څپـه څپـه دی خو بس څه وکړمه

زړه ته کـــړم غلی شه مـــه ژاړه صبر کړه وظيــفه!
ډکه د صبـــر مې پيـــاله دی خـو بس څه وکــړمه

ما په خپل ژونـد کې چـا ته جګ شه کېنه نه ويلي
هسې چتـــي راته غوســـه دی خو بس څه وکــړمه

نـــور به قلـــم ته وايـم مـــه ليـــکه هغـــه دردونـه
کوم چې د مرګ ژوند مسئله دی خو بس څه وکړمه

ملنـــګه! نـن مې هېـــواد وال په بل نامـــه يادوي
زما سپېـــڅلې عقيـــده دی خـــو بس څـــه وکړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

کـــه پـــر ما دې پټـــکې کړلې نو څـه
کـه دې مـا تـه بهـانې کـــړلې نو څـه

د روزي ضيـــمه خـــالق راتـــه وهلـــې
که دې بنـــدې دروازې کـــړلې نـــو څه

نه دې پلار نه دې بچي په کې مړه کېږي
کـه دې ډکـــې هديـــرې کړلـــې نو څه

د لمـــدو خټـــو بس لـــږ اوبـــه دوا دي
که دې ورانې کنـــډوالې کـــړلې نو څه

امتـــحان د هـــر زور واکـــو د وسـلو يم
خير که تا هم ســترګې سرې کړلې نو څه

لا يې ميندې شنډې شولې نه دې واوره!
که دې بـورې څـــو دانې کړلې نـــو څه

په دنيـا کې په خپګان پسې خوښي شته
که پر مـا دې ورځې شپـې کړلې نو څه

زه ملنـــګ آزاد پيـــدا آزاد بـــه پـــايـم
کـه دې جـــوړې زولنـــې کړلې نو څـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

که له رنګـــه ځیـــنې تـــور یمه بـــدرنګ یم
تور مې مه بولـــــه د چا په میـــنه رنـــګ یم

ناچـــاري یمـــه له پښـــو لاســـو تـــړلی
بې وزره ســـتا د شمعـــې یـــو پتـــنګ یـــم

خـــــړ څادر د ســـادګۍ مې یـــو مثال دی
پـــټ دننـــه د یو چـــا د تـــورې شـــرنګ یم

نیمه شپه مـــې له خـــوارږه خـــوبه بیدار کړي
له یـــادو ســـره دې تل مـــدام په جنګ یم

زمـــــا د ژونـــد لـــوړو ژورو تـــه دې پـــام دی
ستا په سر باندې نن تېر له خپل فرهنګ یم

زنـــــده ګي مې صـــدقه شه ستا له حســـنه
لکـــه اوسپـــنه خـــوړلـــی چې په زنـــګ یم

پـــورووړی د خـــالـــق او د مخلـــوق یـــم
اراده کــــــې بې قلنـــګه یو ملنـــــګ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دلته ارزښت دلته قیمت نه شــته دی
دلته اظهــار د محــبت نه شــته دی

نن په دې ښــار کې ځانځاني سودا ده
دلته یــووالی او وحـدت نه شته دی

دلته هر څوک د ځان په وېر اخته دي
په غم ښــادي کې شراکت نه شــته دی

دلتــه په راشــه درشــه تور لګېږي
دلتـه رښتیا چې انـسانیت نه شته دی

کلونه کــېږي چـې قتــلونه دي بس
آرامه ژوند خــوب او لذت نه شته دی

دلتــه د مــــشر احــترام نه کـېږي
دلته په کشــر شــفقت نه شــته دی

چې کومې ځمکې به خِروار غَله کړه
راشه اوس هغه برکـــت نه شــته دی

اوس بې قسـمه خبــر نه شــم منی
له سره بِلکل صـــداقت نه شــته دی

ملنګه! څه چــې لـه دې ښاره درومو
هلته په لاړ شو چې نفرت نه شته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې سترګې ټيټې شي ګريوان ويني
ضمير ته ځير شي خپل وجدان ويني

زه مينه، مينه هغه مينه بولم
څوک چې په خپل ځان کې جانان ويني

اغيار دې اوس ما ته تاڼې راکوي
نن چې عمل د مسلمان ويني

سنګينه[2]! ستا آهونه رب ته سپارم
ستا يتيمان دې اوس سبحان ويني

دا زړه له غوښې که له اوسپنې جوړ
آرام به کله هلمنديان ويني

ځمکې پر مخ دې ولې ځای ورکوې
ګيله مې وشي چې آسمان ويني

ژبه ګونګې قلم دې مات شاعره!
چې حقيقت ته ګوري ځان ويني

ملنګه! خير که پر تا مور بوره شوه
نور خو به جوړ افغانستان ويني

[2] ـ سنګين د هلمند يوه ولسوالۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

نظــــر د تــورو ســـترګو او اثـــــر د تــورو ســـترګو
دیــدن، دیــدن، خمـــار، خــمار بهتر د تورو سترګو

ډېر لــرې تربــنه ګـرځه په رڼـــا ورځ به غلــط شي
جادو کــې بنـګالی دي له مـــنتر د تورو ســـترګو

د چا دې لاسه لاړې او د چـــا دې لاس امسا شـوې
خـطا نه شـــې زړګیــه! په هنـــر د تــورو ســـترګو

پېغور د زمــانې راته په ټـــنډه چې خـال نه کړې
ګواه به شي پر ما بیا سمـه غـــر د تـــورو ســـترګو

په خپل ژوند مې د چا ســـپیو ته کوچې نه ویېلي
بیا ولې شـم هر چـا ته ســـتر خطر د تورو سترګو

مـدام یـــم زلزلــې او تـــــوپانو پـر مخـه کـــړی
ټپي، ټپـي بـــدن یم په ټټـــــــر د تـورو ســـترګو

نن هم د استقبال ته پــه لاســـونو کې ګـــلان وړم
ترلــې مې ده مَلا ماښـــام سـحر د تـورو سـترګو

بې کســـه او بې وســه یو ملنــــګ په دروازه کې
رټلــی چې هر چـــا دی سر په سـر د تورو سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لکه د چا په وره کې تويې کړي څوک غلې اوښکې
هماغه اوښـــکې دي، همـغه ته ښـــاغلې اوښـــکې

د ســـترګو کـار نه دی زړګيـــه دا زړګـی ژړېـــږي
هغه دي بيـا شـــولې روانـــې ملغـــلرې اوښـــکې

سر په زنګون باندې چې کېږدي بس چورتونه وهي
په خپل سر نه را درومي هېـڅکله وژلـې اوښـکې

ماته مـالوم شـوې په خيالونو کې دې څه تېرېږي
د درد دوا به نه شـــې دغه کونجـــورې اوښـــکې

په نيمه شپه کې چې يو ته او بل څښتن خـبر وي
د چا له ســـترګو بهېـــدلي ښکـــرورې اوښـــکې

پرون خبـر شـــوم د يو چا دې زړه ارمان پوره شو
دغــه دي څـــومره خـــوندورې بخـتورې اوښکې

خاونده! څاڅکې څاڅکې تويې ګـرېوانه ته لاړې
د نن سبا په تمه شوې څلوېښـــت کلنـــې اوښکې

زه له تقــديره ګيــله وکـــړم که تنـــدی وداغم
زمـا په برخـــه رسېـــدلې زورېدلـــې اوښـــکې

ملنـــګه! مـــه آزاره وه د ســـترګو تور آشنا دې
تل يــې د شـــعر په ژبه ســـتايه نازولې اوښـــکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د خیالونو ماڼۍ جــوړه کړم پادشـــاه شم
کلــه کلــه چې له ځـان ســـره تنـــها شم

کلـــه بېـــل شـــم له ټولي د هوښـــیارانو
لکـــه لږ د تسبـــو تیتـــې بې مُـــلا شـــم

ټـــول حـــواس کـړمه تابع یوه وجدان ته
بـــې تمـــیزه ماشومـــانو تـــه آبا شـــم

یو خوا درد، بل خوا خوښي راسره مل وي
کوتاه فکـــره، لنـــډ مـــزل یوه دنیـــا شم

په دې فکـــر او سوچـــونو کې تر ډېـــره
لویـــه لاره کې ملګـــری د هـر چـــا شم

ښــه مِــجاز د ماشومتـــوب الله راکـــړی
په وړه خبـــر خپـــه او هـــم پخـــلا شـم

چې قلم وي، نیمه شپه او سپین کاغذ وي
زه ملنـــګ هم په رښتـــیا تـــوره بلا شـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لکـــه للمـــه د بـــاران پـــه تمـــه پـــایم
په خوږ ژوند کې بوږبوکۍ او ګـردله شوم

سمنـــدر په مخـــه وږی به تـــــر څـــو یم
د ازل پـه فیــصلو کـــې فیصـــله شـــوم

ګـوتې شمېـرم په یـادو د چـا اختـــه یـم
ډېر غمونه مې مېلـــمه زه یې کوربه شـوم

نن خـــالي لاس در روان یمـــه څښـــتنه!
نـابلـــده د لـــوی کلـــي همسـایه شـــوم

نه ملنګ وم نه ملنګ به مې څوک یاد کړي
بـــدل شـــوی په تابـــوت او جنـــازه شـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اوښکې مې لاړې له ګرېوانه کوزې برې شــولې
چې مې ناهيلي د ژوندون سپينې کوترې شولې

په اُمېـــدو، اُمېـــدو لاس تــر زنې تمـه، تمـه
د نن سبـــا ورځـــې له بد څخـــه بـدترې شولې

زما غـــرور يې ســلامو ته چې عليـــک نه ويل
نن مې هغـه بې موده سترګې ســوداګرې شولې

په رڼـــا ورځ، په دروازه کې، دروازې جـوړوې
داسې به مات شې لکه ماتې چې لښکرې شولې

چې يې په کاڼـو باندې ولم مــلامت مې بـولي
دده دې لاســـــه مـــروري له ګـــودرې شـــولې

څـــم د قاف غره ته له دېوانو ښاپېرۍ راولـــم
د چـا په نوم چې له په خوا کنډو کپرې شولې

د لېونۍ په څــېر به مـخ په دواړو لاسو شکوم
زما د خيــال بلبـلې ټـولې مات وزرې شـــولې

لاليه خوب د نيمې شپې د اټک سيـند ته وايه
هغـــه لېـــدلي قـــافلې دې مسـاپرې شـــولې

ملنـــګه! هلته دې خبـــرو ښه ښـکلا پيـدا کړه
لکـــه په تـار کې چې پېيـلې ملغلرې شـــولې

۱۳۹۵/۴/۲ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

خنګه چې زه ومه دا ستا په غېږ کې
ته به وې داسې تل زما په غېږ کې

د غلیمانو دې ببړی ډوبه شي
دا چې یې ورکړو د آغا په غېږ کې

نه مې لاسونه او نه پښې خپلې دي
دا به منې، دې نن سبا په غېږ کې

له ډاره حال چا ته ویلی نه شم
لکه چې څوک وي د بلا په غېږ کې

په ما کې څهویني او څه مې کوي
کوي زما په سر سودا په غېږ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــــا په خــــاوره باندې رحـم نه کــړي
شــو ډېر کلــونه دې غــوغا په غېــــږ کې

پربېـــږده چـې لږ آرامـــه ساه واخلـــمه
ډېـــر زورېـــــدلی د آسـیا په غېـــږ کې

خاپي يې وران نه وي چې بل را درومي
هر وخــــت دردېـــږم ناروا په غـېږ کـــې

کـه څــوک مې وژنـي او یا بل وژنـــمه
شـــم قهـــرمان د خپــــل آبا په غېـږ کې

زه په خپـل جـرم او خـطا پوه نه شـــوم
چې چـا لېـــدلی یم د چـا په غېـــږ کې

ملنـــګه! هــــر څـــوک له ارمـــانه سـره
څنګه پوره شي ذکـــر الله په غېـــږ کې

۱۳۹۵/۲/۱۹ل

سید جماال الدین افغان ښوونځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړه مې غواړي چې شپونکی شمه په غره کې
لېــونـو کـــې لېـــونی شـــمه په غــــره کې

چې يـــو زه يمـــه، چمن وي، شنې اوبه وي
د چـــونغر د غـــره لـرګی شـــمه په غره کې

نـــوی کال د نـــوي فصــــــل پيـــلامه شـــم
شين زرغـــون او پســـرلی شمـه په غره کې

د آشـــنا مې نظـــر وچ، نظـــر وچ غـــواړم
ورتـــه دود او سپېـــلنی شـمه په غـــره کې

دا غوښتـــنه د ضمـــــير او د احـــساس ده
له دې خپـلو چې پـــردی شمه په غره کې

دې ناخوالو ته هر څوک ګوته په غاښ شي
زه ملنـــګ هم يو ســـړی شمـه په غره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لکــه اوښــکه په لېــمه در ســره ځــم
ســتا په یاد کې تر کــاله در سره ځــم

د سپــوږمۍ په څېر جوړه به در سره یم
سمه غــر په بیــابانــه در ســره ځــم

چې د ښکار کړمه په ســترګو جـادوګرو
په شلېــدلي ګــرېوانه در ســـره ځـــم

رقیبان دې اوس په سر خاورې انبار کړي
چـــې په شـان د مېلــمانه در ســره ځم

ملنــګ وایي! مَجــاز نـه دی حقیقــت
پټــې ســترګې په بانه در ســره ځــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د غمــونو افســانه شـــوه زمـــوږ کلـــی
هـره خوا جګـــړه، جګـــړه شوه زمـوږ کلی

نن د یار او اغیار دواړه سترګې ســرې دي
ورانـــوي دا یې پلمـــه شـــوه زمـــوږ کلـی

ښـــوونځی زخمي زخمي چمن یې وچ شــو
هـــر دېـــوال یې دروازه شـــوه زمـوږ کلی

آزمـــوینې ته مـې کلـک کـړه ذولجـــلاله!
ستر غـــوری راته کاســـه شوه زمـــوږ کلی

جومـــاتونه مـــو شول شاړ او تعلـیم نه شته
ماشـــومان او تـوپ ډنډه شوه زمـــوږ کلی

زه او ته د غـــم ټغـــر ســـره آشـنا کـــړو
کـه تر منـــځ بله رشـــته شوه زمـــوږ کلی

جنګه! بس ده مېلمستیا بل لـور ته لاړ شه
په کلـــونو دې کـــوربه شـوه زمـــوږ کلی

ملنـګ نه ومه ناخـــوالو دې ملنـــګ کړم
تېـــروي په وېښـــه شپـه شـوه زموږ کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ښایست را پورې اور ده، شنه بنګړي را پورې اور دي
ځواني را پورې اور ده، خپل کالي را پـورې اور دي

خالقه! په دې دومـــره ستر غوري کې نه ځایـــېږم
څادر او لونـګۍ څه چې ګـــران بچي را پـورې دي

دا شپه توره تیـاره ده او سپـــوږمۍ پنا له غـرو شوه
نـور لاړم له دې کلـي ګاونـــډي را پـــورې اور دي

مجبـــور کـړمه ناخـــوالو مهـاجر شوم له خپل کلي
دا لوښي، لرګي پرېږده مات منګي را پورې اور دي

زمـا خـــوږه بغـــلانه! د غمـــونو افســـانه شـــوې
تاریـخ ته په کتـو دې نومیالـــي را پـورې اور دي

ملنګه! ځمکه سره آســـمان ته لار د ختـــو نه شته
په سر سر مې وهي ټول ګـلالي را پـــورې اور دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د سترګو اوښکې مې لمنې ته ځي
څوک چې ناروغه شي لګړې ته ځي

چنار په ژوند کې مې زخمي ونه لید
د کاڼو وار د مېوې ونې ته ځي

خاونده ته يې پت عزت وساته
چې پښتنه پېغله ښرنې[3] ته ځي

د زورور لالي چې زور اوبه شي
زما مظلوم لاس به يې زنې ته ځي

په ننګرهار کې يې نور څه پاتې دي
خپه زړګي ټول مرورې[۴] ته ځي

ملنګه! خوب راشي بالښت نه غواړي
زړګی مين پکې پمنې ته ځي

[3] ـ ښرنه د پکتيکا مرکز ده. ۴ـ مروره د کونړ ولسوالی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بې اختـــياره مې له سـترګو څخه اوښـــکې
تـــويې شــــولې ملغـــلرې مســـاپـــرې

تـــورابان دېــو په زړګي کې رحـــم نه شته
ښاپېـــرۍ کـړې مـــات وزرې مســـاپـــرې

يو نا ترســـه ښکاري ناسـت ؤ په کمين کې
تـــار په تـار يې کـــړې بلبـــلې مســـاپرې

دا تر څـــو به زه او ته لاس په ګـــرېوان يو
راشـــه وکـــړو څـــو خبـــرې مســـاپـــرې

کېنه! څنګ ته مې له ډېرې مودې وروسته
ګيــــله منـــې مـــــــرورې مســـــاپــــرې

ملنـــګ وايي! د غــــره لار به ورته نيــسم
راتـــه را بـــه وړي ګـــرګـــرې مساپـــرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زمـــا لـــه عمـــر ســـره ســـمه جنـــګه!
زمـــا خـــواږه ژونـــد ته ګـړنګه جنـــګه!

دا درتـــه وایم چې هـمزولی مې شـــوې
چـې یم پیـدا ته مې تر څنـګه جنـــګه!

دا ستا مې رنګ او ستا مې بوی خوښېده
ته وې ګـــلاب، تـه وې لونګـــه جنـــګه!

مـا چـې هـر څو لاس د دوستي درکاوه
تا مې کړې خاورې ځواني دنګه جنګه!

په آشـــنايي کـــې بـــې وفـا وختـــې
نور دې دوستـــي نه کړم بدرنګه جنګه!

دا ســتا د لاســـه ژونـــد آرام نه لـــرم
نه مې شته خوب پاس په پالنګه جنګه!

کـــرار، کرار ډنـډې غـوري ته راغلې
زما جونګــــړه دې کړه ړنـــګه جنـګه!

پورته آســمان ته اوس ختـلی نه شـم
په ټول بغلان کې شوم په تنګه جنګه!

ملنګ به اوس کومې درګاه ته درومې
چې وژل کیـږې په بل رنګه جنـــګه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله کله

چې د نيمې شپې په خوب کې راته راشې
ته لا ښــه يې د يـــار غمــه کلــه کلــه

ژړوې مـــې تـــر ســهاره راســره يــې
د ګــلاب دې ګل شبــنمه کلــه کلـــه

فيصلو د ستر خالق ته هک حيـران شــي
چې څـوک ووينـــي بې غمه کلـه کلــه

فقط يو ســوړ اسوېلی باسې له خولې نه
ګيـله من چې شــي له چمـه کلـــه کله

ملنګ وايي! ما ډېر وختــه دی څارلــی
هلتـــه کېـــږدي يـــوه دمـــه کلـه کلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیمه شپه

دا د کوم رباب نغمه یې ، چې په خـوب کې ژړوې مې
دا د کـــوم کتـــاب صفـــحه یې ، اندامـــونه لړزوې مې

دا د کـــوم سـیلاب څـــپه یې ، چې په مخه دې یم وړی
دا د چا دې ژوند کیـسه یې ، چـې په ویښه دردوې مې

دا د چا دې لاس میوه یې ، چې په نیمه شپه کې راغلې
دا د چـــا له خـــوا ډکه یې ، چې له خـــوبه پاڅوې مې

زه پـــه مـــړه احسـاس به څنـګه د قلـــم سره ګـــړیږم
دا ته څنـــګه تـرانه یې ، چې احســـاس راپـــاروې مې

ما تېر کړی دی ټول عـــمر سـتا دې هجـــر په لمبو کې
دا ته څنـــګه ښـه صحـــنه یې ، مـزلـــونه لنـــډوې مې

چې ملنګ دې نن له ژونده هاخوا دېخوا لاس په سر کړ
دا د چا دې خولې ګیله یې ، چې په سره اور نینوې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ستا په يــاد کې تر ســهاره داســې زه
په خيــالــونو کــې پر لاره داســې زه

په سوچونو کې کړم لوړې ماڼۍ جوړې
څه په شمار او څه بې شماره داسې زه

در توييږم څاڅکې، څاڅکې ګرېوانه ته
لکــه شمــعه تــر مــزاره داســـې زه

بې ادرسه بې پوښتــنې ور روان يــم
نا خبــره له خپــل يــاره داســـې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رحمن مېلمانه

میــن مې ځــان بـالـه اوس میــنان مې ولیــده
کتـل یې د یار مــخ ته په ســـوران مې ولیـــده

د یو آدم اولاد دی ګـــرانه نور توپیـــر یې نه شـته
راغلـــی له هـر لـــوري چې انســان مې ولیــــده

په نیمه شپـه کې راشـي د آشنا دې ناستې ځای ته
په خوله باندې جــاري یې چې قرآن مې ولیـــده

دا وربځې هم شرمېـــږي د آشـــنا دې مخ کتــو نه
تک شین له ستورو ډک چې پاس آسمان مې ولیده

ساده جامـو کې راغـــی ما ویل دا لېونی څـوک؟
شلېـــدلی یې له مخې چې ګـــرېوان مې ولیـــده

زړګی له خوشـالۍ نه پـه ژړا بانــدې سر شـــوی
روان چــې مــې د یـار په لـور کـاروان مې ولیده

حرم کې ګرځېـــدل راته په لوڅـــو پښو مزه کړي
په څنګ کې مېلمـــانه چې دې رحمن مې ولیده

ژړا ورځ به هغـــه وي ای ملنـګه چې ترې درومې
مکې په لور چې درومي صف حاجیان مې ولیده

۱۴۳۰/۱۱/۱۲ه ق

مدینه منوره، نبوي (ص) جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما زړه

چې ستا مینې سره آشنا شو زما زړه
بیا له هر څه را جدا شو زما زړه

نه دوه مینې په یوه زړه کې دي ځای شوي
نه په دې باندې رضا شو زما زړه

یوه مینه یې په ټولو کې کړه غوره
چې جدا شو بیا دانا شو زما زړه

ستا د مینې آزموینه مې ترې وکړه
بیا مقر په الا الله شو زما زړه

معشوقه به د عاشق له حال خبر شي
که په دې بازار سودا شو زما زړه

محبت که زه هر څه ورته د بل کړم
ولې ما نه بې پروا شو زما زړه

لاړه بله لار یې ځان ته کړله خوښه
له دنیا نه را جلا شو زما زړه

فقیري دې هیڅ عیب مه بوله ملنګه!
په ایمان مې چې بډا شو زما زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

پـــرون وړوکـــی نن غټېـــږي ســـړی نه پوهېـــږي
د عمـر شپې ورځې تېـرېږي ســــــړی نه پـوهېږي

د خوب لېدل وي پـه خدای هســې تېر شي ومنه دا
لکـــه ويـــده له خـــوب پاڅېږي سړی نه پوهېږي

که يې هر څو زنې تـه لاس، پښو ته ټيـــټ شمـه زه
مـرور يار نه پخـــلا کېـږي ســـړی نـــه پوهېـــږي

بيـا دې پـه ډزو راوېـــښ شـوی کـــه ناڅـاپه آواز
لاسـونه پښې يې چـې لړزېږي ســـړی نه پوهيـــږي

هــر څـه قيـــمته خـو فقـط وينه ارزښـــت نه لري
په ډېـــر ارزانه پلـــورل کېـږي ســـړی نه پوهېـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور مې شي وران، بچي مې مړه او دَر په دَر شمه زه
قــدرت بیـا بل یو ته رسېــږي ســړی نه پــوهېــږي

پرېـږده چې ســاه د آرامۍ او ســوکالۍ واخلــمه
پــر مـا یې زړه هېــڅ نه رحمېــږي سړی نه پوهېږي

تــر څــو به غبــرګې جنـازې زمــوږ له کوره وځي
تر څــو به دا میـــندې بورېــږي سړی نه پوهېــږي

څلوېښــت کلــــونه شول لاســونه یم په لپــه دعا
وایـه تـوبه څنــــګه قبلــېږي ســړی نه پوهېــږي

څښتـــنه! ډېــر یـوو ګناهکار پرې اعتراف کوو بس
دا چې آسمــان هـم نه رالــوېږي سړی نه پوهېږي

ګـرانه ملنـــګ تـه دې هم هغه ځواني نه ده پاتې!
په رڼا ورځ لـــوېږي، جګېــږي ســړی نه پوهېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

سړی په کار ښـه، که بې کـاره ښـــه دی
د کلي ژوند په خـدای(ج) له ښاره ښه دی

را ســـــره پاڼــې تـــــر کفـــنه درومـــي
د ګـــلاب ګـــل خـــو له آناره ښـــه دی

ورځ کې اتـه شپــږ جنــــازې کـــوومه
راته یتـــــیم بې مـــور او پـلاره ښه دی

له بد بختــــیو پــــرته بـــد ښـــکارېږي
زمــــا زړګــــی هـم نا کـــراره ښه دی

ملنګه! ما یې پـــټ تعبـــیر کـړی دی
د نیمې شپې خوب له سهـاره ښـه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تــا ته لیکــمه څــو کــرښې زما پــلاره زما پــلاره
جنتـــونه دې نصیـــب شه په څـــو واره زمـــا پـلاره

پـــه وړه ژبـــه له مـــا ســـره په ورو ورو ګړېـــدلې
ټـــوله شپـــه راته بیـــداره تـــر ســـهاره زمـا پـــلاره

زه دې باغ، زه دې باغـــچه یمه زړګیـــه تا روزلـی
زه دې لـــوی کـــړمه مالیـــاره په تلواره زمـــا پلاره

ستا د چاودو پښو نه ځار شم نن لکړه ستا د لاس یم
دا مې لوظ دی، دا مې قـول او اقـراره زمـــا پلاره

دا به لیکه دې ازل وه په تقـدیر کې لیکل شـــوې
لاس مې نه غواړې پر تا خـاورې انبـاره زمـا پلاره

کـــرامت دې په آخـر کې را مالـــوم شـــولو ابکه!
جنـــازه کې دې صفـــونه دي بې شـماره زما پلاره

زه ملنګ درته له سـترګو نه مړې اوښـکې تویوومه
سولـــوومه، پاکـــوومه په قـــراره زمـــــا پلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې په غوسه غوسه غوسه شي بیا نو کله راځي
هسې چټې خوشې پلمه شي بیا نو کله راځي

یوه به دوه، دوه به په ژوند کې چېرته ونه وینې
چې دې واکداره ارتینه شي بیا نو کله راځي

ستر نعمتونه مور او پلار درنه په ژوند جلا کړي
چې محترمه دې کوربه شي بیا نو کله راځي

له اجازې پرته مېلمه به کور ته نه راولې
د بانک رئیسه چې هم ده شي بیا نو کله راځي

په تېره تېره ننۍ خو تربوران جوړ شوي
خبر چې لېږ سره توده شي بیا نو کله راځي

ملنګه! اوس هم لا وخت شته دی ملنګي دې ښه ده
دنیا دنیا ټوله دوکه شي بیا نو کله راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کعبې ته سلام

کــه خلــک تله په دواړو پښــو زه به په ســر ورځمه
تــر دروازې به يې په چــل او په هنـــــر ورځمــه

خير که توان او طاقت زه نــن د ورتــــلو نه لــــرم
زه بـــې بښـــکو لوڅ مـــرغه بــــه بې وزر ورځمـــــه

دواړه لاســـونه بـه کـــړم پـــورته ور روان به يمـــه
لکــــه چې پاتې له کــــاروانه يو عســـکر ورځمـــه

نــــه بـــه د چــــا په هغــــو دغــــو حصـــاربېږمـه زه
يــم به ژونـــدی په سپـــين کفن کې تر منبر ورځمه

ډېــــــر فريــــادونه يې په لـــوړو دروازو کې کـــوم
ډېر به خوشـــحاله په دې حــــال زه مـرور ورځمـه

هلته به کــــور د شيـــطان نښـــه په جمـــرو ولمـــه
چې شمه خــلاص ترې په ژوندون هليکوپټر ورځمه

منــګي به دوه لـــه اوبو ډک په خپـــلو لپو کـــړمـه
کـــــه د زم زمـــــو په خـــوږو اوبو ګـــودر ورځمـــه

هـــر څه چې کېـږي په دنيا پر ځان يې ټول منمه
که شم جـــوګه د شفاعــــت چې په محـــشر ورځمه

ملنګه! نور ارمـــان په ژوند نه لـــرم پرتـــه له دې
چــــې د مـــکې او مـــدينې په ســــتر سفر ورځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

نه مې جرګــه او نه اقــرار کــړی دی
نه مې پــر چــا د ګلــو وار کــړی دی

نه مې لـــه چــا ســره هغــه دغه ده
نه مې لـه چا د څه انکـــار کــړی دی

په دې مجــرم شــومه او وايي راتـــه
لکه چې ژوند مې په کرار کـــړی دی

نور مې په څـه له خړ ګـرېوانه نـيسې؟
د تشې خولې مې يو ديـدار کـړی دی

زما ښــکاره ويــل شـعار دي ګـــرانه
نه مې ژوندون چېرته په ډار کړی دی

اوس مـــې د ميـــنې يو ملنـګ وبوله
چې مې په سر باندې دستار کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکار شومه

چې د ستا دې غشي ښکار شــومه بيــدار شوم
بيا چې ستا له ميـنې زار شومه هوښــيار شوم

اوس که څومره پټـکې راباڼـــدې کــــړې ته
چې د ســـتا دې زلفو تار شومه بېــــمار شوم

که کـــوښښ د رقيـــبانو څـــومـــره ډېـــر ؤ
بيا په مـخ کې يې جـدار شومه تلـــوار شوم

په غلـــطه دروازې ته چې در تـــلل څـــوک
دروازې چـــې پيـره دار شـومه ســردار شوم

ستا د ميــــنې وسوسـې يې را پيـــدا کـړې
هـــم دې ټـــولو ته گـذار شومـــه په لار شوم

لـــه دې عشـــقه زه اول نــــه خبــر نه وم
اوس چې تا نه خـبر دار شومـــه په دار شوم

شپه او ورځ مې درتـــه تېـــره کـــړه په ويښه
چې هر وخت درته بيدار شومه مالـدار شوم

پـه دې لار کـــې غلامـــي مې ده قبـــوله
بيا چې نورو ته بادار شـومه بل هـار شـــوم

ملنگ وايي! د يار ميـــنه مې مطلـــب ده
که په مينه کې غـــدار شومه اغـــيار شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بیابانونو مېلمه

نه به درځـــم نه به راځـــې جــــانانه
زمـــوږ فیصـــله بــه وي په دې جـــانانه

مطلبــي مینې تـــه دې خـوښ نه یمـــه
یــم په قـــراره چې د شـــپې جـــانـانه

له دې به ښـه سـوړ اسـوېلی چې بـاسم
چې آشـــنایي وه تـــر مـودې جـــانانه

ما په ریښتیـــنې میـــنه، مینه کـــړله
خبـــر تـــرې نـه وم له پـــردې جـانانه

په سپین مخ تور خالونه خوند کله کړي
دغـــه به مـــا ســـــره منـــې جـانانه

ویـــاړم په دې چـــې په وعـــده ولاړ یم
ته شوې له نن نه سـترګې مړې جـانانه

چې نا شکري د ستر نعمـــت ونـه شـي
پـرې به نـور خـــاورې اړوې جـــانانه

اوس چـــې مېـــلمه د بیابانونو شـومه
ملنـــګ به اوس ښه پیـــژنې جـــانانه

۱۳۸۷/۳/۲۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دامونه د چا نه منم

خاوره د افغـــان یمـــه دامـــونه د چـا نه مـــنم
خپل لاس خپل اختیار یمـــه واکونه د چا نه منم

چا تـه که اوږه زه د دوســـتۍ یا دښمنۍ ورکړم
پـــروا یـې نـوره نه سـاتم داغـــونه د چا نه منم

ډېر وخـت د اغیار د خـوب بِسـتـر ومه، بِستر ومه
بس دی نور سینه باندې خوبـــونه د چا نه منـــم

هر نوم مې که ستایې نوره خوښه یې په خپله ده
دا بـــې تخـــته او بخـــته تاجـونه د چا نه منـم

ګیـر په دنګـو غرونو کې راګیـر افغانسـتان یمه
شنو زمریـانو ځـاله کې سیمـــونه د چـــا نه منم

لاره د خیبر دې تلو راتلو کې راشـه درشـــه ده
سپیـــنه صفـــا لاره کې خنـــډونه د چـا نه منم

یمه ذکر الله ملنـګ زېـــږ کړی پښتنې مور یم
دا عزت مې خوښ دی نـور خالونه د چا نه منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دربار خاورې

که د ســـتا په دَر مـــې کېـــښوده قـــدم
نو هــا لــه بــه شــم حســـــاب بنـــي آدم

کـــه مې څېرې شي ګرېوان آن تر لمنې
یـــا کـــوي راســـره زور جبـــــر ســــــتم

زه یې خـــاورې د دربـــار په بیـــه اخــــلم
که په ســـود بانـــدې پیـــدا شي یا سلم

د جهان واړه زلفـــان مې ترې قـــربان شه
له هـــر تـــار د زلفـــو تـــور مـــې د صـــنم

هر بیمار چې دارو وخوري نو بیا جوړ شي
ولـــې زما عـــلاج ژر کلـــه شــــــي یـو دم

څو یې تېر نه کړم په عشق کې ډېر وختونه
روغ بـــه کلـــــه شـــي زمـــا د زړه الــــم

نن ملنګ مې په قسمت کې بریـــالـی دی
خـــدای(ج) ورکـــړی ورته میـــنه په کـــــرم

۱۳۸۵/۵/۱۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خولې آواز

خدایه(ج) څـــنګه نن د خلـکو د خـندا شوم
چې مې کــړله میـــنه پټه او رسـوا شـــوم

دا د چا دې خـــولې آزار دی راتـــه شوی
د نـــا اهلـــو او کـــم اصلو تماشـــا شـوم

دا ستا مینې په سیـنه مې زخـم جـــوړ کړ
لکه اور د سرې بَل جوړ چې په بیدیا شوم

له بیـــګاه نه تـــر ســـبا په اندېښـــنه یـم
لکه شمـــعه چې له اور ســـره همرا شـــوم

چې پیـــدا شي پنـــایي ور لـره شـــته ده
زه د ستا د میـنې زور یـــم چې بقـــا شوم

خود په دښتو بیـــابان به مې ګـذران وي
چې مجنـون غوندې مین نور په لیلا شوم

دا په دا چې شوم تورن په تور د مـــینې
چې ژوندی پر یوه شوف د مسیـحا شـوم

زه ملنـګ څـواب به ور کړمه کچـکول ته
که ګدا ومه د وختـه، اوس پادشـاه شوم

۱۳۸۵/۱۲/۱۳ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د آشنا مينه

زمـــا د مينـــې د آشنـــا جـــوړه سکـــروټه
په ټـول ځان مې ده بار کـــړې لکـــه ځټـــه

که مـــې ټـول بدن پرې سـوځي پروا نه شته
نهٔ! پـر مـــا بانـــدې درنـــه ده نـه نـــوټه

څوک د څه به تجارت کړي څـوک د څه شي
ما پيـــدا کـــړله پـــر دې تجـــارت ګټـــه

هـــم پـــر لـــوړه او ژوره بـه دې ســـتايم
کـــه پـر وچـــه مې سفـــر وي يا پر ختـــه

کـــه په تلـــه تـــرازو ډېـــره درنـــه ده
يو ځـل زه به يې در وړمـــه ســـتا تر کټـــه

اى ملنـــګه! چې مـحل يـې غلط نه کـــړې
ور روان شـــه ببـــــر ســـر بې له چـــوټه

۱۳۸۵/۹/۲۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژوند ارمان

کــه ولاړ شــومه آشـــنا د ســتا پــه دَر
بیـــا به نه لــرم لــه هیــڅ ځانه خطــر

چې مین کړم خدای(ج) د ستا په تورو زلفو
په ظاهـــره یــم تیـاره، په باطــن لمــر

که څـوک را کانـدي دنیا او عُقبـــا دواړه
پـــرې به یې ورنه کـــړمه یو وېښته د سر

له عیـــــبونو څخـه ډک یـم زما میـــنې
د پـاک رب یمـــه مخلــوق جوړ له مدر

معشـــوقه مــې له آســمانه بــره لاړه
مـــلائک وایـي ســـوځېږي مـــې وزر

پـه دې لار کـې تواضـع او عاجزي کړه
لکـه پروت چـې وي پر ځـمکه سور ټغر

زه دعـوه د عاشقـــي ګوره همېش کړم
چې نېـولی مـــې د ســتا د کوڅې ور

ای ملنـګه! که په مینه کې مخلص وې
بیـــا بـــه هلـــه برابـــر شي د ســره زر

۱۳۸۵/٦/۹ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عاشق آواز

چــا مونــدلی ده وړيــا بــې له کمــال
نه مطلــب د چــا نســـب ده نــه جمــال

کـه تــه وايـــې په آســانه به پيـــدا شي
لـــه سختــــۍ وکـــړه پوښتــــنه د بـــلال

ته آشـــنا شه چې يې ميـــنه دائمـــي ده
د هغـــه چا چـــې يې نـــوم دی ذولجلال

که غل نه يې نو له غلـــه سره مـل ته يې
دا چـــې تا ورتـــه نيـــولی دی جـــوال

هميـــشه دې چغـــولي مظلــومـان دي
لکـــه ګـډ چې په چــــرګانو شي شغـــال

ورځ روانـــه ده پوښتـــنه درنـه کيـــږي
شي به ګيـــر په آخـــرت کې په جنـــجال

زه ملنـــګ کچکـــول پر غـــاړه به ولاړ يم
که نصيب مې شي قيـامت کې د وصـــال

۱۳۸۵/۵/۲۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لېونيانو په جامه کې

د ســـتا په ســر به يــاره زه قبـــولې زولنـــې کـــړم
کوڅه کې به دې گرانه گرېوان څېرې لوڅې پښـې کړم

که يو ځلـې خـــالق(ج) دا ســـتا تــر دَره در وستـــمه
ولاړ پـــه دروازه کې تـــورې زلفـې به خـــورې کـــړم

جـــارو بــه دې دربار کـــړمه د دوه ســـترگو په باڼـــو
مغـــروره نفس به مــات کړم بل به نرمې حوصلې کړم

ببـــر ســـر به درځـــمه لېـــونيـــانو پـه جامــه کــې
دا نور دې ما ته گــوري زه د ســـتا به ننـــدارې کـــړم

په يـــو نظـــر کتـــو به دې تر ډېـــره پـــورې لاړ شـــم
په لاس کې د ساقي به ماتې شـنې او سرې پيالې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چا راته د ستا په یارانه کې خنډ پیدا کړ
په دومره لږ خبرې به تـرې ډکې هـدیرې کـړم

چې یو ځلې مې وویل زه د یار او یار زما
پوره به د آشنا د خولې خبرې او وعدې کـړم

که بویې تلم کنعان ته او کوهي ته یې ګوزار کړم
خبر به پرې د لارې را روانې قافلې کـړم

آه! ما ملامت مه کړې نن پرون خبره نه ده
ازل کې لیکل شوي څکه اوس پرې مرکې کړم

ملنګ وایي! یو زه او بل کچکول به را سره وي
په تمه د وصال به یې زړې نوې جامې کړم

۱۳۸٦/٦/۱۴ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملنګ کچکول

کاشکې ناســـت وای ګرانه تا سره تر څنګ
لـــرې شـــوی به مې زړه نه ؤ تـــور رنـــګ

څوک چې ســـتا په مـــلاقات خړوبه شـــوي
ترېـــنه خبـــږي بوی د ګـــل او د لـــونګ

ډېرو خونـــد په رڼو ســـــترګو دې اخېستی
ځیـــنې ګـــوره نېـــشیان لکـــه د بنـــګ

درباریان مې چې د یار پرې خوشحالېږي
یو ځل ور به کړمـــه خپل رباب ته تـــرنګ

زه په مینه مې د یار کـې ټول اوبـه شـوم
لکه ختـــمه چې شـي اوسپـــنه په زنـــګ

مـــا په دې لاره کې ډېـر څه دي موندلي
راشـــه وګـــوره کچکـــول ډک د ملنـــګ

۱۳۸۵/٦/۱۴ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د میدان خبرې

لاس تر زنې ناست یمه ویر د خپل جانان کووم
وچ د للمې فصل یمه تمه د باران کووم

ډېر دې د راتلو په انتظار باندې څارمه لار
تا چې پرې قدم ایښی مینه په بیابان کووم

ډېر شومه خفه پر دې ما نه چې جلا شولې
سترګې د ګریوان په لور اوښکې مې په ځان کووم

وایه ګل اندامې ته سلام د شهزاده بهرام
غږ د لرې لرې نه په کور د تور آبان کووم

منم دې د مېلمه په نوم دعوه راسره مه کوه
زه چې یو افغان یمه عزت د خپل مهمان کووم

نور نو بس په پوهېږمه پېژنم غلیم او دوست
زه هم د ملنګ په څېر له نورو خدای په آمان کووم

۱۳۹۸/۲/۱۲ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناز دعوت

که خبـــر شــــې ته زما د زړه پـــه راز
بيـــا به والــــوزې د ميــــنې لکــــه باز

ستا نظر باندې که هر څومره ذليل يم
په دربار کې مــې د يار دی ډېر اعزاز

له آشـــنا سره مې ميــنه پنـهانـي ده
کـــه يې تــه حقيـــقت بولې يا مَـجاز

که له بل سره پيــدا شوه درته وايـــم
بيا مې کېنــوه په صـف کې د غـــماز

مينه هلته به مالومه په ډګــر شــــې
چې د لرې نه د عـوت شــــمه په ناز

زه د مينې په بازار بانـــدې ګډ شوی
که په لاس راشي دوکـــان ډک د بزاز

د ملنګ په حال مې يو آشنا خبر شه
د خپل زړه راز چــا ته نه کـوي ابراز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وفا قول

**ځير ځير دې راتــه وکتــل زړګی مې په لړزان شو**
**دننه په زړګي کــې مــې د زړه کــورګی ودان شــو**

**دا ومنـــه زړګيـــــه چــې له زړه نه زړه ته لار وي**
**زړګی مې ژر بې واره ســتا د زړه په لور روان شو**

**غماز يې پېژندلی او پــه خــوله يې ګـــوزار ورکړ**
**نور خـــلاص له وســواسو او لمسونه د شيطان شو**

**اقـــرار شـــو پر وعـــده او د وفــا قــول يې راکړو**
**اوچتـــو ارادو کې په رکـــوع لکـــه آســـمان شو**

**دا برخــې ازلــي دي چې هر چـــا ته رب ورکړي**
**ملنـــګه! ستا په برخه ببــر سر څېرې ګرېوان شو**

خپل کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یار په تمه

زه پــه تمـــه د دیــــدن یې شـــوم بربـــاد
خـــدایه(ج) مـا یې په دیــدن کـړې موړ او ښاد

که مې یو ځلـې په ژونــد کې لیــدل وشـــول
دا بــه وي د لـــویـــه خـــدایـه(ج) راتـــه داد

که مې ســـل مصیبـــتونه پـــر ســـر راشــــي
زه ولاړ بـــه یـــم هـــر یـــو تـه کلـک او تـــاد

چې قبول کـــړمه آشـــنا په خپـــل دربـار کې
ټـــول امـــرو ته یې لبیـــک وایـــم مـــنقاد

که تاریخ، ســاعت او ورځ یې شـــي مـالـومه
زه بـــه یې لیـــکم پـر زریـــنه کـــرښه یـــاد

چې یې خوک له خپـــل دربـــاره دي شـړلي
همېـــشه په غضـــب کلـــک دي او نا ښـــاد

که هر څـــومره منــــزلونه پـــرې بِنـــا کـــړې
جوړ به یې نه کړې چې یې کوږ وي بېخ بنیاد

ای ملنـــګه! خپـل رقیـــب ته دې بیـــدار شه
پـــرې یې نـــږدې تـــر سنـــګر او تر مـــرصاد

۱۳۸۵/٦/۲۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زخمي مينه

زخمونه مې ســـتا مينـــه په زړګـــي راجـــوړوي
د مينــې پر هــارونـــه مـــې ســـتا ميـــنه رغـــوي

عـــلاج يې له طبيـــب او حکـيم دواړه سره نه شته
ډاکټر دی، کـه مـــلا دی، مـــا بې ځـــايه تاووي

د ستا په پـاکه مينـه آن تر دار رسېـــدل غـــواړم
په دې بانـدې به ويـاړم چـــې تر دار مـې رسوي

ستا خوښه ده زاهـده زه په خپـــله لاره درومـــم
ښېـــرې هغـــه ته وکـــړه چـــې ميـــــن آزاروي

د ستا په سر به ورشـــم ميـــخانـې ته د خـــوبانو
خـادم به د ساقـــي شـــم چې پيـــالې راڅکـــوي

په کومه لار چې ته ځې خپل محل ته د زړه سره
عاشق به دې هغـه خـــاورې په ســـترګو ښـکلوي

ملنـــګه! شـــه يو ته او بل کچکول در سره واخله
توبـــې يې په دربـــار کـــړه چې عـذرونه قبلوي

۱۳۸٦/۳/۲۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما جونګړې

ولــې شـــوې بدبخــته چې همـېش دې په ژړا وينم
نـــورو تــه اخـــتر وي خو په تـا کې کـــربلا ويـــنم

سر دې ټکـوي د سر دښــمن دې خـورا ډېر ښـکاري
څوک په پټه بوخت دي ځيــنې ځيــنې بر آلا وينـم

لوی شي چې بچي دې ځــي د بـل په اشـارو پســې
سمه لار تـرې ورکـه شــي خـطا يې لـوی لالا وينم

اوښکـو په ځـای وينــې تويـوي نن بدخشـان راته
لال دی، کـه ياقـوت او زمـرود مفته سـودا وينـم

هر څومره که کونړ په غېږ کې ونيــسم سلګۍ وهي
لوخ شومه، بر بنډ شـومه ځنګلــونه مـې تالا وينم

۱۳۸۶/۵/۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زندان

زخـــم ملګــری مې سيــــنې سره دی
زړه مــې ورغلـــی له هغــې ســـره دی

کلــه څښـــتنه په آرام بــــــه کېـــنم
مدام مې سوچ فکر هـــم دې ســره دی

کله مې څوک د خپلې مــور نه بــولي
سلوک په شان د مــور ميــــرې سره دی

خلـــک خبـــرې د فلــــک غـــــروي
مينه زمـا له تـــورې شپـــې ســـره دی

خلکـه! خبر له خپــل انجامـه نه يـــم
اوس چــې مې ژوند له زولنې سره دی

ملنـــګه! څـــوک به دې پوښتنه کـوي
چې د بادار خلاف وعـــدې ســـره دی

۱۳۸۹/۴/۷ل
مازديګر۲:۵۵بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه به نه یم

دا بهــار به بیـا بهـار وي زه بـــه نـه یـم
د اغیـار په لاس که یــــار وي زه بـه نه یم

شیــن توتــي به د چمـــن پـر خوا الوزي
د بلبــلو بــه چــغار وي زه بـه نـــه یـــم

خواجه الوان دښـــته به سره وي په ګلــونو
چـــې زما په بـــرخه ډار وي زه به نه یـــم

چې وختــي پاڅــي شبـــنم به وي پر ګلو
وچـــو شـــونډو تـه سینګار وي زه به نه یم

معشـــوقه مې کـه په حقــه آواز کــاندي
که منصور غونـډې په دار وي زه به نه یـم

زما میـــنه یې لـه یار څخـه جــلا کـــړه
چې دده دې سـترګو خار وي زه به نه یـم

که دوستـــي کړي، دښمنی نه یې خبر شـه
د لستــــوڼې به دې مـــار وي زه بـه نه یم

که څوک غواړي چې ملنګ سره دې کېني
بیا به دا کچکول چهـل تـار وي زه به نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژړوي مې

د ستا پر ښکلـــي مخ بانـــدې زلفان مې ژړوي
تـــورې په رنجـــو، هـا تـور چشمان مې ژړوي

ځمکه کې ځای نه لرم رقیـب را سره جنګ کړي
ختـــلی بـــره نه شـــم پاس آســـمان مې ژړوي

ستا صفــت یـــوازې زه تعبـــیر کـولی نه شـــم
له ډېـــرونه یـې اورم هـــر انســـان مـــې ژړوي

تـــورې ورېځې راشـي زما په سر باندې څو ځله
ستا دیـــدن چـــې راولـــي بـــاران مـــې ژړوي

څوک راته کیـــسې او افســـانې د هـــر څه وایي
هغه ما چې اورېـــدلی ســـتا داسـتان مې ژړوي

علاج مې چې د رنځ کولی نه شي زه یې څه کړم
دا زمـا په رنـــځ ناپوهـــه طبیـــبان مـــې ژړوي

مجنـــون که په لیـــلا پسې له عشـقه په صـــحرا
میـــن چـــې په بـــدرۍ ؤ بیـا دېوان مې ژړوي

ملنګه! یو ته نه یې چې په عشـق کې یې ژاړې
پر دې مـــرض اخته نـــور عاشـــقان مـــې ژړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستا په سترګو

چې مېـــن کړم خدای(ج) قضا وه ستا په سترګو
نـــاروا نــــه وه روا وه ســـتا پـــه ســــترګــــو

چــا دیــدن په رڼــو ســترګو دی لېـــدلی
ړونـد یې مه بـوله بیـــنا وه ســـتا په سترګـــو

ډېـــرو لارو ګــــودرونــــه دي نېـــولـــي
انتـظار دې چې شیــدا وه ســـتا په ســـترګو

له دې بلـه نېـــک نامـي بـه چېـــرته نـه وي
چې رسوا کړم خدای(ج) رسوا وه ستا په سترګو

مجنـــون نه ؤ په مجنـــون باندې چې یاد شو
وفـــا داره یې لیـــلا وه ســـتا پـــه ســـترګو

د یوسف(ع) حســن څرګنــد چې په کنعان شو
پرې مېـــنه زلیــخا وه ســـتا په ســـترګـــو

چې به مــړی پرې ژونــدی شو غـــږ د چا ؤ
د عیـــسی(ع) د خـــولې صدا وه ستا په سترګو

د فرعون دسیسې چـــې یې کـــړې شـــنډې
د مـــوسی(ع) د لاس امســـا وه ســـتا په سترګو

نن ملنګ په صـورت روغ بېـــمار ښـــکارېږي
ستا په عشـــق کې یې دوا وه ســـتا په ســـترګو

۱۳۸۵/۷/۷ل

د روژې مبارکې میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلام آشنا ته

له فکر خیـــال سره مې تللـــې او راتللې آشنا
سر په زنګون باندې مې هر وخـــت یادولـې آشنا

چا به کیسـې راته په مخ د سپـین کتاب کـــولې
ما لا هغه وخـــت پېـــژندلې، چـې ختـــلې آشنا

د چا به میـــنه په میـخور او په شـــــرابو کې وه
ما ته یـوازې پـه ضـــمیر کې څـــرخېدلې آشنا

په دې پوه نه شومه د حال پوښتنه ولـې نه کړې؟
ته خو زما په سر له پـــلار، مور تېـــرېدلې آشنا

یو څه زمـــا وه غلطـــي څه د اغیار په لمـــسون
څـــه د ازل وې فیـــصلې چې به کېـدلې آشـــنا

نن دې دربار ته په دوه لاسه سلامي در رومـي
ملنګ خالي کچکـــول چې تاته درېـــدلې آشنا

۱۳۸۷/۷/۲۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**چې ولچک او زولنـــې وې چېـــرته وې؟**
**چې تنها مې ورځې شپې وې چېرته وې؟**

**په آرامـــه مې ناستـــې کـــولی نه شـوی**
**نـه بالښـــت نه بسـترې وې چېـــرته وې؟**

**بل لـه تنـــدې سره لاس او په ګرېوان وم**
**بیا پـه نس کې مې غرمې وې چېرته وې؟**

**مـــا دې تمـــه د وصـــال همېـــش لرله**
**خو تر منځ مو فـــاصلې وې چېـرته وې؟**

**چې نـــاره د حـــق په لوړ آواز مې نه وه**
**د غلیـــم پـر ما پیـــرې وې چېـــرته وې؟**

**له زنـــدانـــه بـــه یـــې وړلـــو نا ببـــره**
**نه قاضـــي نه فیصـــلې وې چېـــرته وې؟**

**ډله ایـــزه بـه یې د خـــاورو مېلمانه کړو**
**نه کفـــن نـــه جنـــازې وې چېـــرته وې؟**

**ادکۍ او بیا د پـــلار په کور کې پېـــغله**
**په روژه د دواړو خـولې وې چېـرته وې؟**

**د قلـــم په ژبـــه نـــه شـــي ای ملنـــګه!**
**د آشنا چې سترګې مړې وې چېرته وې؟**

۱۳۸۷/۴/۲ل، ۷:۳ب ظ

د سید جمال الدین افغان ثانوي ښوونځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملنګ او ګلاب

جانانه ســـتا د عشــق پر هــا مـــزار مې نه پرېږدي
چې درشم ســتا تر دَره پــر دې لار مې نه پرېـــږدي

که هــر څـــومره مجــرم يمـــه منــم يې پــه لېمو
په تمـــه د ديـــدن زه ګناهـــکار مې نه پرېـــږدي

له مــا ســـره جفــا د آشـــنا ګـــوره هـــم وفـــا
پر لاس بانـدې ګټـلی جـــوړ قمـار مې نه پرېـــږدي

عـــدل په دنيـــا کې چـــې بې ځايـــه نن زورېـــږم
د سرو شګـو باران کې چـې سنګسار مې نه پرېږدي

خوله بانـــدې ناري د اناالحـــق وايـــم ګـــويان يم
منصور په عشق کې موړ په سر ده دار مې نه پرېږدي

له ډېــر وخـــت پر دېښـــوا يې خارمـــه لويـــه لاره
رقيب نه ډېـر په تنـګ يم په کـــرار مې نه پرېـــږدي

ملنـګ ځـان به بورا کـــړم له ګـــلاب نه به تاوېـــږم
خـــو څـه وکـړم له ګل سره چې خار مې نه پرېږدي

۱۳۸۵/۱۱/۲۶ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مننه

د آشــنا کــوم مننه او ســـــپاس
دا چې ويې شولو له ما سره شـناس

همېشه به مې په خيـال کې تاوېدلو
شکــــر ووتــــلو زمــا د زړه بـــــراس

د رقيب سره هر وختي زه جنګي وم
دا چې ماته را پيدا کړې ژر وسواس

زه په مينه د آشنا کې داسې نغښتی
لکه پټ چې لـوڅ بدن شي په لباس

که مې يو ځلې منګول ته غماز راغی
نور به يې ونيــسم په خوله لکه پلاس

خدايه(ج) ماته کړې حاصله مينه صافه
هم مــــې وســــاتې له شره د خــــناس

نه په تـول او تــــرازو کېږي ملنــــګه!
نه موزون نه په مقدار شي نه مقياس

۱۳۸۵/٦/۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چــې تــړلی دې د زلفـــو په زنځیـــر یم
تـا ته ښــکارمه آزاد خـــو زه اســـیر یـــم

ســتا جفــا ته مـــې وفـا وفا په خـوله شي
څه چې کـړې او څـه دې کړي ورته ځیـر یم

نیمه شپه کې دې یـادونه دومـره زور شـــي
چې ســبا ته ملامـــت بیـــا د ضمـیر یـم

په ټولي کې وروســـته ناســت یمـه منـمه
دروازه کـــې دې رښتـــیا د ټـولو میـــر یم

چې مې لاس د مینـې در کړلو په لاس کـې
له هغـې ورځې غلیــــم سره در گیـــر یـــم

اوس مې پرپرده په خلوت کې گړی چُپ چُپ
زه ملنـــگ دلتـــه د څـــو ورځـــو اجـــیر یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

فلسفه د خواږه ژوند ورکـه پیـــدا کړي
چې څوک ګډ شي په دریاب د شـــاعرۍ

سوچ او فکر یې نظمـونه شي غـــــزلې
هر یو خیال یې شي په باب د شاعـــرۍ

په غمـــونو او ښـــادیو کـې یې ګـــوره
غـــوړولی یې وي کتـــاب د شاعـــرۍ

نه موســم د پســرلي او څیـلې غـواړي
چـــې روانه شـــي میـــزاب د شـــاعرۍ

خوشـبويي لري د وخت په تېـرېدو کې
راشــــه وګــــوره کبـــاب د شاعـــــرۍ

عجیبه غــوندې خـــوندونه او مـزې دي
که ویده شـي څـوک په خواب د شاعرۍ

لویه لار کې به یې ګـوتې شونډې ښوري
چـــا چـې ونیـــــوه تـــناب د شاعـــرۍ

د ملنګ په څېر به دی هم ویښ ویده وي
که تر غوږ یې شـــو ربـــاب د شـــاعـــرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چـــې میـــن کـــړمه زه تـا په ښکلـــي مــخ
بیـــا نـو ولـــې وهـــي مـــا پـه ښکلـــي مـــخ

چې ځان سپین کـړمه بیا بیا په تهمت رنګ شم
چــا لېـــدلی یـــم د چـــا پـــه ښـــکلي مـــخ

د لاسونو ګوتـې پـــرې کړې د وخـــت نجـــونو
مـــلامــــــته زلیـــخا پـــــه ښکلــــي مـــخ

که یې ګوتې کړلې پرې زړونـــه به یې پرې ؤ
کـــه یې ســـترګې وای ســـبا په ښکلـــي مخ

چې په ټـنـډه یې نښـــان د ښایســـت نه وه
کله خـــلاص شـــي د آبـــا په ښـــکلي مخ

د لیـــلا د کـــوڅې سپـــــي بـــه ښکلــــومه
زه مجنـــون مـــې د لیـــــلا په ښکلـــي مخ

ما ملنـګ ته خپل سیرت صـــــورت مالوم دی
دا چـــې څـــه کـــړم د دنیـــا په ښکلي مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نصیبه کله کله مې کوڅې لارې اغزي کړې
بیا کله داسې وشي چې له سپیو جوړ سړي کړې

په غوږ کې پټ د نیمې شپې چې غلې چاته وایم
خبر رابانديې څنګه کلی کور او ګاونډي کړې

چې څه مې اوربدلي دي د سر په سترګو وینم
قسمت چې د چا خوار شي په چمن یې مات منګي کړې

له چا نه پاتې اور او له چا پاتې مړې ایرې شي
بس سم د لاسه وینم چې هوښیار یې لیوني کړې

دا لیکه د ازل ده ننني خبره نه ده
څوک وي آزاد په کلي په چا کور کې پابندي کړې

ملنګ مې خبل نصیب ته مړې مړې اوښکې کړلې تویې
چې څنګه ملامت یې هم د خپل او د پردي کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ما مې آشـــنا ته پټ په غــورږ کـې یو کیسه کړې ده
هغه آشـنا مې خپل آشـــنا ته سـر چپـــه کـــړې ده

نوره به نه کړم ریبـــاري دې قســـم خــــور آشنا ته
له دغه کار څخـــه مې څـــو ځلې تـــوبه کـــړې ده

زه يې ليـــدلی يمـه چېـــرته بـــد گـــومان ولې دی
له ده نه مخـــکې ما هغو ســـره لانجـــه کـــــړې ده

په جوړولو د کورگي بانـــدې چــــې نه پوهېـــږي
لالي مې نن مخکې له وخت ځينې کوژده کړې ده

چــې په وړو خبـــرو نه پوهېـــږي مـــه ښـــــوروه
هغـــه زمـــا په خېر د فيل په غوږ کې شپه کړې ده

خالقه! ښار دی بې پوښتنې آشـــنا نه شـــو پيـــدا
زه يو ســـاده ملنـــگ په چـا مې عقيـــده کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ته مــې پــرونۍ مخــکې له وخـــته غـزل وګوره
ډېـره ده نېکبـــخته دا نېـــکبخته غــزل وګــــوره

ته بې کـــاره کله يې ماغـزه به شاعران خوري پرې
لږ فرصـــت پيـــدا کړه راشه مفـــــته غــــزل وګوره

هر يو مې د ګودر چنار په څېر باندې ښـودلی دی
ډېر کـــه دې انګـــــور د ونـــې لښــــته غـزل وګوره

ګير شي په جرمونو فقط دوه ورځې په بند کې وي
خوشـې شي سبـا ته دا بدبختـــــه غــزل وګـــــوره

نه اخلـــــي ملنــــګه! څـوک دې دا غـزله نه اخلي
ختـــــه يوه ختـــــه ده خو ښــــــته غــــزل وګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نن چې دردونـــه ستا په ښکلـــــو اننګو راغلـــي
دومـره غمـــونه زما په کليـــو په کـــوڅو راغلـــي

دې فرعـونـــي لښـــکرو څـه ونه کړل، څه ونه کړل
پـــرون هغلتـــــه اوس په دغـــو پښتــــنو راغلـــي

ورکړئ يو څه، ورکړئ يو څه دوی ته د خدای په نامه
يو څـــو بـــې وزله له دې بـــرو کنـــډوالـــو راغلـــي

زمونږ له هېـواده ها د بر کلي جـــومات جـــوړ شوی
هر څـــوک تر خپـــلې وسـې ستـــړي له چندو راغلي

دوی تـه بـه څنـــګه د بريـــا لاســـونه لپـه کـــړمه
بې اجـــازې مـــې پـــه کړکيـو دېـــوالو راغلـــي

پرېږده شلېـدلي ګرېـوانونه زړه بـړاس ته پـــرېږده
له دې نـــادودو ولســــــو نه تر سپـــږمـو راغلـــي

توپيـــر يې نه کېـــږي ملنـــګه ســـړی څـــه ووايـي
پـــرون وتلـــي په سيـــنه ؤ نـــن په پښــــــو راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دلتــه ظلـم، دلتـه زور، دلتـه زياتی دی
چې پنځه گوتـې په خوله منډي زمری دی

د يو څـــــــو نا اهلو ستـــړو بې فرهنـــــگو
نه سـړی په دې زور واکـــو کې ســـړی دی

زور قـــوت به يې مېـــږي ته نه رسېـــږي
خو په کبر کـې ستر اوښ ترېنه کمکی دی

دا چـــې گـــل يې تل ســاتلی له اغيـــارو
اوس نـــو ولې ملامـــــت په گل اغـــزی دی

خدای بـه يې ســـاتي له نظـــر د بدو سترگو
ورتـــه دود مـــې بادبـــرک او سپېلنــــی دی

د آشـنا د کوڅې داســـې پاسبـــاني کـــړه!
چې هر څوک وايي سړی نه دی دا سپی دی

تش په غبـــرگو تســـبو نه کېـــږي ملنـــگه!
څو شاهد دې په سجده خيالي تنـــدی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نه پوهېـــږم چـــې لړزېـــږم کله خنـــګه کله خنـــګه
چې پاځېـــږم بېـــرته لوېـــږم کلــــه خنګـــه کله خنګه

نتيجه مې د عمـــل ده که ښـــېرا د کوم مظلـــوم ده
په خـــواږه خـــوب کې غـــړېږم کلـه خنګـه کله خنګه

تـــه د چـــا په يـــاد ژړېـــږې ما ته کلـــه مالومېـــږي
په خپل خيال کې غلطـــېږم کلـه خنـګه کلـه خنګـــه

ګوره زه له عقله کم يم خير که سر وېښته مې سپين دي
په خــــوږو د چـــا غولېـــږم کلـه خنـــګه کله خنـــګه

سړيتوب عمر پوره شو څلوېښت کالـه جنګ جګړو کې
چې ســـړېـــږم بيا ګرمـــېږم کله خنـګه کله خنـــګه

ډېـــرې کونـــډې ډېرې بـورې راته پاتـې انقـــلابـــه!
زه ملنــــګ ورتـه زورېـــږم کلـه خنـــګه کله خنـــګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ســـتا يـادونه مـې پـه ويښــه زنګـــوي
کلـــه کلـــه مـــې لـه خــــوبه پاڅـــوي

کله سـر په زنګـــون ايښـــى غلـــى غلـــى
کلـــه کلـــه تصــــوير مــــخ تـــه راوړي

کله وينـــمه يادګار د خــــواږه ژونـــد دې
يقـــين وکـــړه ما آرام تـــه نـه پـــرېږدي

کلــــه اورم آوازونـه د خـــوږ ژونــــد ستا
ګونګـــې ژبـه مـې ځــواب نه درکـــوي

کلــــــه يـــو بل راتـه هغــــه دغــــه وايي
کلـــه کلــــه مې ضمــــير هــــم پــــړوي

اوس به څوک وي چې ملنګ دې دلاسا کړي
خامـخا بــــه يې وېښــــته غــم سپيــــنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په رڼا ورځ کې یو څو ستوري د آسمـــان لټوم
د رقیبانو په کـــوڅه کې مې جــانان لټـــوم

دا ســـتا په مینه کې رنګ شوی تردې ځایه یمه
د قافلــــو ســـره ملګری شوم کنــــعان لټـــوم

چې سپېناوی یې لوی څښتن په ماشومانو کوي
داسې دوسې، داسې بندي، داسې زندان لټوم

ورځمـه نیسم د آســمان لمنې نـن سبـــا کې
یو څو للمې مړاوو غـــوټیو تـــه باران لټوم

نن مې هوډ کړی مـخامخ یې دروازې ټکـــوم
د عملونو په هیـــنداره کې مـــې ځـــان لټوم

بیایې په تنده لهجه زوړند ستـــرګو غلـي غلي
د هر سایل خاموش ځواب ته مې وجدان لټوم

ملنګه! بیا په نیمه شپه کې دا ړانـــده توغندي
هر یو په جار وایي ساقي کې مــــلایان لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ریښتـــیا چې پرتــه له تا نه تېـرېږي
په زړه کې پټ چې مې په زړه تېرېږي

د شپـــې پـلان د سبـا ورځـــې تـــړم
ګـــوره سبا ورځ چې په څـه تېرېـــږي

لېـــوه چې ګډ شي په رمه کـوم ساعت
وایه چې څنــګه په شــپانه تېـــرېږي

څښــتنه جــار دې له قـــدرته شـــمه
دا نـن څه حـال په پښــتانه تېـــرېږي

قسـم په خـــدای(ج) په سـړي وغمېـږي
د دوبـــي ورځ چـې په کاله تېـــرېږي

مـــا دې زړګـــي غوښـې پرې وخړلې
نـــاروا بیـــا پـــه دالانه تېـــرېـــږي

ملنګه! څه د لارې سـر دې پرېـــږده
دوه میینان دي لکـــه غلـــه تېـــرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

پاس په سر واورې پرتې لاندې باران کړي
کاڼې ډېر وي خو يو يو ياقوت مرجان کړي

پاکولو د بنده ته چې هود وکړي
سوزول د ګناهو په رمضان کړي

ته په کوم نيت اړم شوی يې تقدير ته
تا وژلي کړي ژوندي بيا يې شاهان کړي

چې کرل او ريبل کړي ورته مالوم دي
نو پرې ولې ملامت قلب سرطان کړي

حقيقت د زړه په سترګو باندې ويني
په رښتيا باندې شکونه او ګومان کړي

چې د نوح هغه اوږده تبليغ ايل نه کړو
په دې لنډ عمر به څنګه څوک جانان کړي

دا د سويو اسوېلو سوی زړګی به
ما ملنګ به په خالي لاس ور روان کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**دا چــې د نـــن او د راتلـــونکي انـــدازه کـــوومـه**
**ګـــوته په غـــاښ ددې حـــالاتو ننـــداره کـــوومـه**

**دا چې ځـواني مې دې ناخوالو ښکار شوه کړوپ يې کړمه**
**اوس به د چـــا په محکـــمو کـې فيـصله کـــوومـه**

**نور به نـــو سر په زنګـــون شـپه په ويښـه نه تــېرووم**
**لکه شاعـــر چـــې لـه خيـــالاتو سـره شپه کــوومـه**

**لمن مې ډکـــه ده له کاڼـو خو څـوک نه پـــرې ولـم**
**زه لکــه پـورې غـر په خـداى چې ګوزاره کـــوومه**

**د انديښـــنو او د غمـــونو تابـــوت وړم پـــر اوږو**
**هلتـــه د څـــو آزار ګټـــلو جنـــازه کـــــوومـه**

**زما غـرور، زما وجـدان د چـــا په ځـــان نه منــــي**
**پرتــه له دې چې يـــوه تـــا ته به سجـــده کـــوومه**

**ملنـــګه! تا ته کـړي يو څــه او مـا ته بل څه کـــوي**
**دلتــه به څنـــګه اعتــبار د چـــا په خـوله کـــوومه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د ورځې خيال سړی له خوبه باسي
فکر جنجال ســـړی له خــوبه باسي

په خپلو ښــو او بـــدو نــه پوهېـږي
ثواب وبال ســړی له خـــوبه بـاسي

د کار په نيت استـــخاره کـــوومـه
خپل اندېوال سړی له خــوبه باســي

قلم په لاس ســوچ کې غــزل جوړوم
زنګ او مسکال سړی له خوبه باسي

په تش لېدو له سترګو وړي خوبونه
د زنې خال ســـړی له خوبه باســي

ملنګه! خپله ملنـــګي دې ښه ده
دولت او مال ســړی له خوبه باسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د آشنا مې سترګې سرې دي نه يې مني
جوړې کړې يې پلمې دي نه يې مني

په رڼا ورځ حقيقت سترګې کړي پټې
دلته غبرګې جنازې دي نه يې مني

د هېواد خاوره شاهده ده ژړېږي
پَل په پَل نن هديرې دي نه يې مني

پسرلي ښکلا بدله په بل رنګ کړه
د سرو وينو فوارې دي نه يې مني

ته نن رحم کړه مقتوله انتقام کې
د مظلوم ملت نارې دي نه يې مني

يو خوا پانډ بل خوا ته پړانګ منځ کې ملنګ دی
ورته کړې چا ښېرې دي نه يې مني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د زړه خبــره مــې له زړه ســـــره ده
د آشــنا کــور مـــې له کاله ســـره ده

ریبار په کــور کوژدن دې کړې نه ده
غم دې جـــانانه لــه واده ســـــره ده

ګـــوره کـــــارونو کې به کــار نه لرې
د هر یــو کار تدبیر له ده ســـــره ده

ښایســت د مــخ مې نړیـــوال زوروي
کیســـــه د تــره نن دې وراره سره ده

ملنـــګه! خوره شوله پرده پرې وکړه
واک او اختیار دې له ړانده سره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

**ما له ګـــرېوان سره په پـــټه مشـــوره کـــوله**
**دا ستا د مـينې مې په خپل ځان اندازه کوله**

**نن مې ګومان راته ښکارېږي په يقين بدل شو**
**تا په رښتيـا هـم پسـرلي ته حــوصله کـــوله**

**لکـــه چــې جوړه مې د ختو کلا بيا ورانېږي**
**هلـته يوه زلمـي له بل ســـره کيـــسه کـــوله**

**خالقـــه بيا به يې ګرمۍ د جـوزا وســـوځوي**
**په دغـه باب مې د بې وزلو انديښـــنه کـــوله**

**ما ملامت مه بولـۍ نفس لرم شـــيطان لـــرمه**
**يـــو څـــو بـــدرنګو د ډالـــرو اشــــاره کـــوله**

**ســتا له ورو خبــرو ځــار شـمه يتـــيم ماشـومه**
**دا څنګه زړه ؤ ستا په پلار يې چې حـمله کوله**

**بيا يې د ميـــنې ملنـــګان له دروازو شـــړلي**
**نن د ملنګ په څېر هغـــوی هم دروېـــزه کوله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د ملنـګ میـــــنه ملنـــګ کوي ملنګه
ګـوزاره لږې له څنـــــګ کـــوي ملنګه

ملامت نه دی ښایســــــت له دنـیا تللی
دا چې ناز پر مــا بـدرنـګ کـوي ملنګه

ما د سر په ســــترګو ولېـــدل څو ځلې
دلته ننګ په هر بـې ننـــګ کوي ملنګه

د بـــورا سیـنه ســـورۍ ګل د ګلاب کړه
خـود به میـنه په لـــونګ کوي ملنـــګه

سر به وخـوري دا مور مړی نن سـبا کې
څوک چــې سر لړ ذره دنګ کوي ملـنګه

څرک د سولې آرامــۍ هېـڅ نه لګـــېږي
دلته هر څوک ژوند په جنګ کوي ملنګه

لـه څېـــښتنه کلمـــــه غـــواړه په ژبـــه
عـــزرائیل چې کلـه زنګ کـــوي ملنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

نـه د ګــودر نـه د منـګي کیـــسه ده
قسم په خدای چې د زړګي کیــسه ده

زه یــې په دنـګه ځــوانۍ وغــولېدم
اوس یې چې وینم د مرګي کیــسه ده

قرآن ټــوټه ټـوټه جـومات شهـید شو
ته او خـــدای دا هم اسلامي کیسه ده

خدایه! په خوب کې مې لېدلې نه وه
نـــن په رنــو د هـر سړي کیـــسه ده

زمـا په خیــال سـر کې ماغزه نه لري
د ګېـدړ خـــره او د زمـــري کیسه ده

چې ملامت څـوک دي پوښتنه کووم
زه وایـــم ومـــه د غوایـــي کیسه ده

دا چې له ځان سره به نور څه راوړي
دا د راتلــونکي پســرلي کیـــسه ده

ملنـــګه! زه چــې مې زړګی ور وړمه
د بـل په فکـــر مطلـــبي کیـــسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرګیه

زه دې پـــوروړی یم کـــه مـــې ته یې پـــــوروړی
د سلو ســــر دې نـــن په مازدیـــګر راځیـــنې وړی

دا زه دې پیــــژندلـی شـــپه او ورځ راتـــه ولاړ یـې
په ســـمه چـــې در نه شـــم بیا دې غـــر راته نیولی

قربان شــــم عزرائیـــله لږ د ســـر ســـړي ته ګـــوره
فرصـــت خـــو یو څـه ورکړه په سخـتیو مې موندلی

زړګیه ستا خالي ځای به په چا باندې اوس ډک کړم
چې سترګې مې ور واوښـــتې پـرون دی رانه تللی

خاونده! نه پوهیـږم چـــې په څـــه یـــم وژل شـوی
کـــــه ژبـــه پښتـــــنه پټکی په ســـر مې ده وهلـــی

تـــر څـــو به وژل کیـــږم او قـاتل به مالوم نه وي
قلمـــه اوس یـــې لیــــکه تا نو ولــې انکـــار کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه د خيـــال په تصـــور کـــې زنگېـدلم
تا لېـدلم مـا خـدايږو کـــه ته لېـدلې

د يو چا انځور مېلـمه مـې ؤ خيـالو کې
اوښکې خپله په خپل سر له سترگو تللې

عجيبه غوندې دنيا وه زمـا په ژونـد کې
په ساعت کې مـې ژړلـــې او خنـــدلې

د غماز په څـــېر هغلـته يو بل څوک وو
د پـــردې تـــرشـا يې ورو ورو راکتـلې

اوږده شپه د ژمـــې تېره شـــوه سبا شو
له لـــړ تـــويې ملغـــلرې مې شـمېرلې

ملنـــگـي نه وه ملنـگه دا خــــاني وه!
چـې مـې څـــه ورته ويلې يار منـــلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**لکـــه رڼا چــې، په رڼا کې، په رڼــا پســې ځي**
**زړګــی مې ځـکه ستا د زړه په سر سودا پسې ځي**

**ملامــت نه ورته مالـوم ده هســې ســترګې پټې**
**چې چېرته زړه ځي، هلته پښې په هغه چا پسې ځي**

**اُوس او خزرج شول د کلــونو دښــمنۍ لاس په سر**
**حق رسالت او ستر نعــمت هــر چا پخلا پسې ځي**

**تا وه لیــکلې په تقـــدیر کـــې هدایــت خبــره!**
**شي نافرمان ولې هُـد هُـد چــې په سـبا پسې ځي**

**د چــا دې لاســه کـډه لاړه پـه زیــړي مازدیــګر**
**روایـــې څـــه کـــړې دردېــدلي نا روا پسې ځـي**

**ورځ را روانه ده لمــده ژپــه دې وچــه غـــواړم**
**دروغ به دروغ شي او رښتیا به په رښتیا پسې ځي**

**یـم پلــورل شـــــوی له پخــوا نه پــه ارزانه بــیه**
**ســـوانح ګـوري څـــوک لالا او څوګ آبا پسې ځي**

**ملنــګه! لاړ به شــــې نـړۍ نه له ارمــانه ســره**
**هېڅوک په دې فکر کې نه دي چې عُقبا پسې ځي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په سترګو رونډ سر مې دې سپين کړو اوس دې کډه وکړه
صبر تمام زړه مې دې خوږين کړو اوس دې کډه وکړه

ما لويه شپه تا ته پستې تا خندورې کړلې
پر ما دې پلې خپل آيين کړو اوس دې کډه وکړه

هيڅ خبر نه وه ګوزاره کېده او ژوند روان ؤ
چې مې يو خال پاس په جبين کړو اوس دې کډه وکړه

زما اخلاص به دې وهي آزار ګڼلې آشنا
ما ته دې کور کلي کمين کړو اوس دې کډه وکړه

ورځه ورځه خير به ونه کړې تا ته شوي ښېرې
خوښ دې پر ځان شيطان لعين کړو اوس دې کډه وکړه

پرون دې زه ومه ملنګ او درته خوښ جامو کې
چې دې پر غاړه لونګين کړو اوس دې کډه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زوړ بېدلــی يم له يــاره دومـــره ډېــر
څـوک به نـه وي له اغـياره دومره ډېر

په دا خپـــله غلطـی مې نه پوهېـــږم
کنه! تللـــی يــم پر لاره دومـره ډېــر

ترې په ژوند کې د خوښيو لايق نه شوم
پرې وتلی يـــم له کـــاره دومـــره ډېر

نصيبـــونه، قســـمتـونه، تقـــديـــرونه
رسېـــدلی يـــم تر داره دومـــره ډېـر

مؤمن يو ځلې چيـــچلی شي له غـاره
چيچل شوی يم له غـــاره دومـــره ډېر

زه ساده ملنګ په خپله ساده ګی کې
چا لېدلی يم هوښـــياره دومـــره ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مننليک

دا چې زما شاعري د تخنيک او سيستماټيک له پلوه څومره کيفيت يې درلود، دا مې د ادبياتو او د شعر استادانو ته وړاندې کړ، چې له نېکه مرغه د خپل ځانګړي نظريه يې زما د شدلې شاعرۍ په پار څرګندې کړې دي، خو ما هر کله د خپل الهامونو ته ښه راغلاست ويلی او بې له کوم استرس او ډار څخه د ټولنې او د زړه غږ مې د شعر په ژبه بيان کړی دی، په هر صورت؛ په لومړي قدم کې د پښتو ادبياتو ستوری استاد لعل پاچا ازمون صيب څخه نړۍ مننه کووم چې زما شعرونه يې ډېر په غور سره کتلي او د کره کتنې وړاندوينې راته کړې وې، چې ما هم د راتلونکې شاعرۍ لپاره ډېر په غور سره ولوستل، چې ګټور او مثبت پاينتونه يې درلودل، بيا ځای لري چې مننه وکړم له تاند او زيارکښ عبدالوهاب مومند څخه چې د کتاب په اډېټ او کمپوز کې يې راسره مرسته وکړه او هلې ځلې يې د ستايلو وړ دي. همدارنګه له نورو ملګرو نه هم مننه؛ چې د کتاب په برخه کې يې ونډه اخيستې!

هېره دې نه وي، د مالي لګښت په برخه کې له حاجي راز محمد امرخېل څخه نړۍ مننه چې په لنډ وخت کې د کتاب چاپ ته يې اوږه ورکړه.

درنښت

ذکرالله ملنګ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**